د رسول الله ﷺ د نېکمرغه مېلاد په مناسبت

# د رسول الله ﷺ

# یاد او مینه



لیکوال: مولوي سید محبوب شاه ساجد

صداقت خپرندویه ټولنه

Scanned with CamScanner




Scanned with CamScanner

د رسول الله ﷺ د نیکمرغه مېلاد په مناسبت

# د رسول الله ﷺ یاد او مینه

لیکوال

**سید محبوب شاه ساجد**

**صداقت خپرندویه ټولنه**

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول حقوق په خپرندوی اړه لري!

د کتاب پېژندنه

- د کتاب نوم : د رسول الله ﷺ یاد او مینه
- لیکوال : مولوي سید محبوب شاه ساجد
- خپرندوی : **صداقت خپرندویه ټولنه/ کندهار**
- کمپوزر :اسد الله ارماني
- د پښتي طرحه :محمد عمر
- چاپ کال : ۱۳۹۰ش-۲۰۱۱ع
- چاپ شمېر : ۲۰۰۰ ټوکه
- کچه : ۱۳/۵۰×۲۱ سانتي متره
- د مخونو شمېر : ۱۰۱ مخه

**د ترلاسه کولو پته:**

**صداقت خپرندویه ټولنه**

ارګ بازار، کندهار-افغانستان

اړیکي: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷-۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴

برېښنا لیک: sadaqat.books@gmail.com

## ډالۍ:

ګراني مرحومي مور او مهربان پلار ته هغه چې:
د مهربان مولا ﷻ او خواخوږي مجتبی ﷺ وروسته
پر ما تر هر چا زیات مهربان او ما
ته تر هر چا محترم دي.

**سید محبوب شاه "ساجد"**

Scanned with CamScanner

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | د سر خبري | ۱ |
| ۲. | د حضرت محمد ﷺ مبارک ژوند ته لنډه کتنه | ۳ |
| | • پلرنی نسب | ۳ |
| | • مورنی نسب | ۳ |
| ۳. | د رسول الله ﷺ بعثت د نړیوالو لپاره رحمت | ۱۳ |
| ۴. | هغه جاهلي نړۍ چې حضرت محمد ﷺ ورسره مخامخ سو | ۱۴ |
| ۵. | د رسول الله ﷺ نېکمرغه مېلاد او بعثت | ۱۷ |
| ۶. | رسول الله ﷺ دغه بدلون څنګه رامنځ ته کړ؟ | ۱۹ |
| ۷. | نبوي اخلاق | ۲۶ |
| ۸. | د رسول الله ﷺ مبارکه حُلیه (قلمي څېره) | ۴۶ |
| ۹. | پر امت باندي د نبي کریم ﷺ حقونه | ۵۰ |
| | • اطاعت | ۵۱ |
| | • متابعت | ۵۳ |
| | • محبت | ۵۴ |
| ۱۰. | د نبي کریم ﷺ د محبت علامې | ۵۵ |
| ۱۱. | پاملرنه | ۵۷ |
| | • د سنت څخه دفاع کول | ۵۸ |
| | • وسیله غوښتل | ۵۹ |
| | • درود ویل | ۶۰ |
| | • د درود فضیلت | ۶۲ |
| | • د امهات المؤمنین احترام | ۶۳ |
| | • د صحابه کرامو احترام | ۶۴ |


Scanned with CamScanner

- د اهل بیت احترام ........................ ۶۸
۱۲. رسول الله ﷺ ته د سپکاوي حکم ........................ ۷۰
۱۳. نبوي معجزات ........................ ۷۱
- قرآن کریم معنوي معجزه ........................ ۷۱
- شق القمر ........................ ۷۳
۱۴. د نبي کریم ﷺ فضیلتونه ........................ ۷۵
- خاتم النبیین ........................ ۷۵
- د غنیمتونو حلال والی ........................ ۷۷
- د رسالت عام والی ........................ ۷۷
- د ټولي ځمکي پاکوالی ........................ ۷۷
- جوامع الکلم ورکول ........................ ۷۸
- د رعب ورکړه ........................ ۷۸
- مقام محمود ورکول ........................ ۷۹
- د عالمیانو لپاره رحمت ........................ ۷۹
- د معراج په شپه د لمانځه امامت ........................ ۸۰
- لواءُ الحمد ........................ ۸۰
- د بشریت سردار ........................ ۸۰
- د قبر څخه لومړی پورته کېدل ........................ ۸۱
- د جنت لباس به لومړی ده ته واغوستل سي ........................ ۸۱
- د عرش عظیم راسته خواته درېدل ........................ ۸۲
- حبیب الله ........................ ۸۲
- شفاعت کبری ........................ ۸۳
- له ټولو څخه لومړی جنت ته ننوتل ........................ ۸۳
- لوړه مرتبه او عزت ........................ ۸۴
- د کوثر حوض ........................ ۸۴
۱۵. حضرت محمد ﷺ د نامسلمانو پوهانو له نظره ........................ ۸۵
- د تاریخ ستر مصلح ........................ ۸۶
- د تاریخ نومیالی ........................ ۸۶
- د طبیعت د زړه ناره ........................ ۸۷
- د انساني تاریخ د لویانو لوی ........................ ۸۷
- د انسانیت ژغورونکی ........................ ۸۷
- د تاریخ ستر نابغه ........................ ۸۸
- اغېزمن انسان ........................ ۸۸
- لومړی مقام ........................ ۸۸
- مهاتما ګاندي څه وایي ........................ ۸۹
- بشپړ شخصیت ........................ ۹۰
- سپېڅلې عقیده ........................ ۹۰
- بشپړه ډېوه ........................ ۹۰
- د لوړي موخي خاوندان ........................ ۹۰
- یوازینی سرچینه ........................ ۹۱
- شریف انسان ........................ ۹۱
۱۶. ماشومان او تنکي ځوانان باید د رسول الله ﷺ سره د میني پر بنسټ وروزل سي ........................ ۹۱
۱۷. ماشوم او ځوان صحابه رضي الله عنهم د رسول الله ﷺ په خدمت کي ........................ ۹۲
۱۸. د ماشومانو جګړه له هغه چا سره چي د رسول الله ﷺ سخت دښمن دی ........................ ۹۵
۱۹. څنګه کولای سو چي نوی نسل د رسول الله ﷺ د سیرت سره اشنا کړو ........................ ۹۷
۲۰. ماخذونه ........................ ۱۰۰

Scanned with CamScanner

# د سر خبري

الحمد لله، الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله، والصلاة والسلام على سيدنا و مولانا و على آله و اصحابه اجمعين.

دا يو واقعيت دى چي هيڅوک تر هغه پوري د ايمان دعوى نه سي کولاى تر څو چي يې د الله تعالى ﷻ او رسول الله ﷺ احکامو ته د اطاعت غاړه نه وي ايښې، رښتيني او حقيقي مسلمان هغه دى چي اسلام يې د ژوند د قانون په حيث منلى او عملي کړى وي. اسلام هغه دين دى چي الله تعالى ﷻ د خپلو بندګانو لپاره غوره او خوښ کړى دى، همدغه غوره دين الله تعالى ﷻ د خپل افضل او وروستني پيغمبر حضرت محمد مصطفى ﷺ په واسطه موږ ته رالېږلى دى. حضرت محمد ﷺ د الله تعالى ﷻ دين په پوره اخلاص او او امانت دارۍ سره لومړى پر خپل ځان عملي کړى او بيا يې امت ته رسولى دى، د رسول الله ﷺ مبارک سيرت او د هغه ﷺ اقوال، افعال او اخلاق د اسلامي مقدس دين مکمله نمونه ده، که څوک غواړي ريښتيني مسلمان وي بايد د خپل ژوند په هره برخه کي د رسول الله ﷺ اطاعت او پيروي وکړي.

د رسول الله ﷺ سره مينه او محبت درلودل د ايمان بشپړونکي ده، د هغه ﷺ د پاکو سنتو او عالي لارښونو مکمله پيروي په دنيا او اخرت کي د الله تعالى ﷻ د رضايت او برياليتوب تر ټولو لوى لامل دى.

د دې لپاره چي د الله تعالى ﷻ د سپېڅلي استاذي د ميني څخه مو زړونه مالامال او ډک سي او د هغه ﷺ د مبارک ژوند ليک، اخلاقو،





کارنامو او عظمتونو په يادوني سره مو زړونه روښانه او ايمانونه قوي سي نو په دې لنډه ليکنه کي مو نيمګړې هڅه کړې تر څو د رسول الله ﷺ د مبارک شخصيت پر عظمت، اخلاقو، حقوقو او کارنامو باندي لنډه رڼا واچوو چي د حضرت سرور کائنات ﷺ او عظمت او لوړ مقام ته په پام سره د يو لوى بحر په مقابل کي د يو څاڅکي حيثيت هم نه لري نو د الله تعالى ﷻ د غني دربار څخه دعاء کوو چي زموږ په نيکو اعمالو کي يې وشمېري، قبول او د لوستونکو د ګټې وړ يې وګرځوي. آمين

۱۳۸۸ د کب څلورمه

سيد محبوب شاه "ساجد"

# د حضرت محمد ﷺ مبارک ژوند ته لنډه کتنه

**پلرنی نسب:**

محمد بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد المناف بن قصی بن کلاب بن مرة بن کعب بن لوی بن غالب بن فهر. د فهر (لقب قریش) او همده ته د قریشو قبیله منسوبه ده.

**مورنی نسب:**

آمنه بنت وهب بن عبد المناف بن زهره بن کلاب بن مرة.

پر کلاب بن مرة د محمد ﷺ د پلار او مور نسب سره یو ځای کیږي او د همدې لاري عدنان او بیا اسماعیل بن ابراهیم ﵇ ته رسیږي.

د هغه ﷺ پلار عبد الله د ده د زیږیدني څخه شپږ میاشتي مخکي په یثرب (مدینه) کي وفات سو.

هغه ﷺ د دوشنبې په ورځ د ربیع الاول پر نهمه او یوه روایت کي دوولسمه نېټه د فیل په کال د ۵۷۱ مېلادي کال د اپریل پر شلمه د خپل اکا ابوطالب په کور کي دنیا ته تشریف راوړ.

نیکه یې عبد المطلب د محمد ﷺ نوم ورباندي کېښیناوه.

د مور څخه وروسته اول ورته د ابولهب وینځي ثویبې (تی ورکړ).

د رضاعت (تی ورکولو) لپاره حلیمې سعدیې ته ورکړل سو.

د هغه ﷺ څلور رضاعي ورونه: مسروح، د ثویبې زوی، عبد الله د حلیمې زوی، ابوسفیان د اکا زوی حارث بن عبد المطلب او اکا یې حضرت حمزه بن عبد المطلب.





د هغه ﷺ دوې رضاعي خویندې وې: انیسه او حذیفه چي نشیما هم نومېده د حلیمې لوڼې وې.

په څلور کلنۍ کي یې د ملایکو لخوا سینه مبارکه څیري او زړه مبارک یې د زمزم په اوبو پرېمنځل سو.

په شپږ کلنۍ کي یې مور بي بي د مکې او مدینې تر منځ په (ابوا) نومي ځای کي وفات سوه.

په اته کلنۍ کي یې نیکه عبد المطلب د دنیا څخه سترګي پټي کړې.

په دوولس کلنۍ کي یې اکا ابوطالب د ځان سره د شام په سفر روان کړ، په دغه سفر کي یوه یهودي راهب بحیرا د ده ﷺ د پیغمبری وړاندوینه وکړه.

په شل کلنۍ کي یې د خپلو اکاګانو سره د فجار په جنګ کي ګډون وکړ، د دغه جنګ د ختمولو لپاره یې په (حلف الفضول) معاعده کي ګډون وکړ.

په پنځه ویشت کلنۍ کي د مکې یوې شتمني مېرمني خدیجې ﵂ د مالونو د تجارت لپاره د هغې د غلام میسره سره شام ته په سفر ولاړی، په دغه سفر کي یو بل یهودي راهب (نسطورا) د هغه ﷺ د پیغمبری وړاندوینه وکړه.

د دغه سفر څخه وروسته حضرت خدیجې ﵂ ورته د خپلي ملګري (نفیسې) په واسطه د واده کولو پیغام واستاوه او حضرت محمد ﷺ د هغې دغه پیغام ومانه.

په دغه وخت کي بي بي خدیجه ﵂ کونډه وه او د حضرت محمد ﷺ سره یې د واده په وخت کي عمر څلوېښت کاله او د محمد ﷺ مبارک عمر پنځه ویشت کاله و.



Scanned with CamScanner

د رسول الله ﷺ وکیل د هغه اکا ابو طالب او د خدیجې رضي الله عنها وکیل د هغې اکا عمرو بن اسد و.

د دواړو نکاح ابو طالب په پنځه سوه (۵۰۰) درهمه وتړل.

د حضرت خدیجې رضي الله عنها څخه یې شپږ اولاده: دوه زامن قاسم رضي الله عنه او عبد الله رضي الله عنه او څلور لوڼې حضرت زینب رضي الله عنها، حضرت رقیه رضي الله عنها، حضرت ام کلثوم رضي الله عنها او حضرت بي بي فاطمه رضي الله عنها وې.

یو بل زوی ابراهیم یې د یوې وینځې ماریه قبطیه څخه و.

د حضرت فاطمې رضي الله عنها څخه ماسوا یې نور ټول اولادونه د هغه ﷺ په مبارک ژوند کې وفات سوي وه.

رسول الله ﷺ پنځه دېرش کلن و چې کعبه شریفه د سېلابونو له امله ونړېده او بیا د قریشو لخوا جوړه سوه.

د حجر الاسود د ایښوولو پر سر یې د قریشو تر منځ اختلاف پای ته ورساوه.

د پیغمبرۍ څخه مخکې په قریشو کې په صادق، امین او ښو اخلاقو مشهور و د وحي له راتلو څخه مخکې به یې ربښتیني خوبونه لیدل.

د څلوېښتو کالو په پوره کېدو سره ورته د مکې په حراء غار کې د ۶۱۰ مېلادي کال د اګست پر لسمه نېټه د رمضان المبارک په یوویشتمه د دوشنبې په ورځ حضرت جبرائیل علیه السلام اولنی وحي (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝) مبارک آیتونه راوړه.

د وحي وروسته په بېړه سره حضرت خدیجې رضي الله عنها ته راغی او خپله قصه یې ورته وکړه.

د څلوېښتو ورځو وروسته دوهم ځل وحي د دعوت په رسولو سره پیل سوه.





د دعوت په اوله ورځ حضرت خدیجه رضي الله عنها، زید بن حارثه، حضرت علي رضي الله عنه او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په اسلام مشرف سول.

دري کاله یې پټ دعوت کاوه او په دغه موده کې د دیرشو څخه زیات کسان مسلمانان سول.

د نبوت او بعثت په څلورم کال د دعوت د ښکاره کولو حکم وسو.

په پنځم کال د قریشو د ظلم په خاطر دوولس تارینه او څلورو ښځو حبشې ته هجرت وکړ.

د نبوت په شپږم کال حضرت حمزه رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په اسلام مشرف سول.

په اووم کال درواتیا نارینه او اتلسو ښځو د دوهم ځل لپاره حبشې ته هجرت وکړ په دغه کال قریشو د بني هاشم کورنۍ سره مقاطعه وکړه او د ابولهب پرته ټول د ابو طالب په دره کې بند سول.

په لسم کال د محرم په میاشت کې دغه ظالمانه معاهده پای ته ورسېده، په دغه کال د رجب په میاشت کې حضرت خدیجه رضي الله عنها د پنځه شپېتو کالو په عمر وفات سوه.

د رسول الله ﷺ عمر پنځوس کاله و او تر دغه وخته یې بل واده هم نه و کړی په دغه کال کې یې د حضرت سوده بنت زمعه سره نکاح وکړه چې هغه هم کونډه وه.

په دغه کال یې د مکې څخه د باندې دعوت پیل کړ او طایف ته ولاړی چې هغوی په ډبرو وویشتی.

د نبوت په یوولسم کال یې د شوال په میاشت کې د خپل ملګري حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د لور بي بي عایشې رضي الله عنها سره کوزده وکړه واده کړې یې نه ده.

د دغه کال د حج په موسم کي د مديني شپږ کسان په اسلام مشرف سول.

په دوولسم کال د رمضان يا په ديارلسم کال د محرم يا ربيع الاول په مياشت کي د اسراء او معراج واقعه رامنځ ته سوه چي په يوه شپه کي بيت المقدس او بيا اسمانونو ته بوتلل سو.

د دوولسم کال د حج په موسم کي د مديني دوولسو کسانو بيعت وکړ.

مديني ته اولنی سفير (د دعوت لپاره) حضرت مصعب بن عمير ﵁ وليږل سو.

په ديارلسم کال د حج په وخت کي د صفري د مياشتي په اووه ويشتمه او د ٦٢٢ د دسمبر په دوولسمه نېټه يې د شپې خپل ملګری حضرت ابوبکر صديق ﵁ سره د مکې څخه مديني ته په هجرت پيل وکړ.

د مکې څخه پنځه ميله ليري د ثور په غار کي د دري ورځو لپاره تم سو.

عبدالله بن ابي بکر به د مکې احوال ورته راوړ او شپه به يې ورسره تېروله، د حضرت ابوبکر صديق ﵁ غلام عامر بن فهيره به شيدې ورته راوړلې او د حضرت ابوبکر صديق ﵁ لور اسماء به د سفر توښه ورته راوړه.

د دري ورځو وروسته د لارښودونکو عبدالله بن اريقط او عامر بن فهيره په ملګرتوب د غار څخه روان سول.

د ربيع الاول په اتمه د دوشنبې په ورځ قباء ته ورسېدل.

په قباء کي يې د يو مسجد بنسټ کېښود او څورلس ورځي هلته پاته سول.

مديني ته په رسېدو د يثرب نوم په مدينة الرسول بدل سو.

په مدينه منوره کي د ابو ايوب انصاري په کور کي دېره سو.





هلته يې هم تر هر څه لومړی د (مسجد نبوي) بنسټ کېښېښود.

څور ورځي وروسته د هغه ﷺ او ابوبکر صديق ﵁ کورنۍ هم مديني منورې ته ورسېدل.

په مدينه منوره کي دري ډوله خلک اوسېدل: مسلمانان، مشرکان او يهود.

د يهودو څخه ماسوا د مديني دوه قومونه وه: اوس او خزرج.

يهود دري قبيلې وه: بنو قينقاع، بنو نضير او بنو قريظه.

د مديني د ټولو اوسېدونکو تر منځ يو دفاعي تړون لاسليک سو.

د رسول الله ﷺ په مشرۍ په مدينه کي د اسلامي دولت بنسټ کېښېښول سو.

د اسلامي دولت تر جوړېدو وروسته د جګړه مارو کافرانو سره د جهاد اجازه وسوه.

د هجرت په اول کال د حمزه ﵁ په مشرۍ يوه وسلواله ډله د قريشو د مخنيوي لپاره وليږل سوه.

د بدر د مشهوري غزا څخه مخکي څلور واري رسول الله ﷺ په خپله او دري ځلي يې د بل چا د مشري لاندي وسلوالي ټولګۍ لېږلي وې.

د هجرت په دوهم کال د رمضان په اووه لسمه د جمعې په ورځ د حضرت رسول الله ﷺ د قيادت او مشرۍ لاندي د اسلامي لښکر او د ابوجهل (عمرو بن هشام) د مشرۍ لاندي د کفري لښکر تر منځ نښته وسول.

په دغه غزا کي د مسلمانانو شمېر دري سوه ديرلس او د قريشو شمېر ديرلس سوه جنګيالي وه.

د مسلمانانو څخه څوارلس کسان (شپږ مهاجر او اته انصار) شهيدان سول.

د مشرکانو څخه اويا کسان ووژل سول او اويا کسان ونيول سول.

په دغه کال د شوال په نيمايي کې د يهودو قبيله بنو قينقاع د يوې مسلماني ميرمني سره د بد چلند له امله د مديني څخه وايستل سوه.

په دغه کال د شوال د مياشتي په اوومه د شنبې په ورځ د اُحد د غره په لمن کې د رسول الله ﷺ تر مشرۍ لاندې د اسلامي لښکر او د ابو سفيان تر مشرۍ لاندې د قريشو د لښکر تر منځ سخته نښته وسول، په دې غزا کې اووه سوه مسلمانانو او درې زره مشرکانو برخه اخيستې وه په دې جګړه کې اويا مسلمانان شهيدان سول چې د نبي کريم ﷺ اکا حضرت حمزه ؓ هم پکښې کې و او اوه دېرش مشرکان ووژل سول.

په دې کال کې حضرت عثمان ؓ د پيغمبر ﷺ د دوهمي لور ام کلثوم سره د هغه ﷺ د لومړۍ لور رقيې ؓ تر مرګ وروسته نکاح وکړه.

په دې کال کې نبي کريم ﷺ د حضرت عمر فاروق ؓ لور حفصه ؓ چې د خنيس بن حزافه کونډه او زينب بنت خزيمه چې د عبد الله بن جحش کونډه وه په نکاح کړې.

د هجرت په څلورم کال د يهودانو بله قبيله بنو نضير د رسول الله ﷺ د وژلو د دسيسې له امله د مديني څخه وشړل سوه.

په دې کال نبي کريم ﷺ د ابو سلمه د کونډې ام سلمه ؓ سره نکاح وکړه.

د هجرت په پنځم کال مدينه د کافرانو د بېلابېلو ډلو لخوا محاصره او د احزاب يا خندق غزا را منځ ته سوه چې د لويې مرګ ژوبلې څخه پرته د کافرانو په ماتې پای ته ورسېده.





په دغه کال د يهودو دريمه قبيله بنو قريظه د معاهدې د ماتولو او د خندق د غزا په وخت کې د کافرانو سره د لاس يو کولو له امله محاصره سول.

د محاصرې په پنځه ويشتمه ورځ په ذوالقعده کې د هغوی نارينه ووژل سول، ښځې او ماشومان يې غلامان او مالونه يې غنيمت وګرځول سول.

په دغه کال نبي کريم ﷺ د زينب بنت جحش سره د زيد بن حارثه ؓ د طلاق څخه وروسته نکاح وکړه.

د هجرت په شپږم کال د شعبان په مياشت کې د بند المصطلق غزا را منځ ته سوه چې پکښې د منافقانو لخوا پر حضرت عايشې ؓ باندې تور هم ولګېده چې وروسته الله تعالی ﷻ په دې اړه په سورت نور کې د هغې پاکوالی را ولېږه.

د ذوالقعدې په مياشت کې د رسول الله ﷺ او د مکې د مشرکانو تر منځ د حديبې په مقام کې صلحه وسوه.

د صلحي څخه وروسته بني کريم ﷺ بېلابېلو پاچاهانو ته خطونه ولېږل او هغوی ته يې د اسلام دعوت ورکړ.

د هجرت په اووم کال د محرم په مياشت کې خيبر فتح سو په دې غزا کې څوارلس سوه صحابه شريک وه.

په دغه کال د تېر کال د قضا سوي عمرې د اداء کولو لپاره مکې مکرمې ته ولاړل.

په اتم کال د موته غزا را منځ ته سوه چې د شام برخه ده او په دې غزا کې د اسلامي لښکر درې قومندانان زيد بن حارثه، جعفر طيار او عبد الله بن رواحه ؓ شهيدان سول.

په دغه کال د رمضان پر لسمه نېټه د قریشو د خیانت له امله نبي کریم ﷺ د مکې د فتح کولو لپاره د لس زره لښکر سره د مدینې څخه روان سو.

د رمضان په اوه لسمه د چهارشنبې په ورځ د نبي کریم ﷺ په لاس مکه فتح سوه.

د شوال په شپاړسمه نېټه د حنین غزا را منځ ته سوه.

په دغه میاشت کې یې طائف محاصره کړ خو د محاصرې د اوږدېدلو له امله محاصره ختمه او بیرته را ستانه سوه.

د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کې د حجاز د پولو څخه د باندې د تبوک غزا را منځ ته سوه چې د وسلوالي نښتې څخه پر ته اسلامي لښکر بریالی را ستون سو.

په دې غزا کې دېرش زره صحابه شریک وه او دې سفر پنځوس ورځې دوام وکړ.

په دې کال کې د نبي کریم ﷺ لور ام کلثوم ﵂ وفات سوه.

د هجرت په نهم کال د حضرت ابوبکر صدیق ﵁ د امارت لاندې خلکو د حج مقدسه فریضه ادا کړه.

د هجرت په لسم کال د ذوالقعدې په شپږویشتمه د دوشنبې په ورځ رسول الله ﷺ د حج کولو لپاره د مدینې څخه روان سو او د ذوالحجې په څلورمه نېټه مکې ته ورسېدی، د حج مراسم یې تر سره او خلکو ته یې د حج طریقه او اسلامي قوانین بیان کړل.

د هجرت په یوولسم کال د صفري په نهه ویشتمه نېټه د دوشنبې په ورځ مریض سو.

د دغه کال د ربیع الاول میاشت په دوولسمه نېټه د دوشنبې په ورځ سرور کائنات، فخر موجودات، خاتم النبیین، افضل الرسول محمد





مصطفی ﷺ د درې شپېته کلونو په عمر له دې فاني نړۍ څخه رخصت سو.[1]

انا لله و انا الیه راجعون

زموږ مور او پلار دې ورڅخه قربان سي.

(1) د ملي اصلاح سیرت خانګړې ګڼه، ص ۱۹-۲۲ پوري په لږ تغیر سره، د مختصر سیرة الرسول، نورالیقین في سیرة سید المرسلین او الرحیق المختوم سیرتونو په حواله

## د رسول الله ﷺ بعثت د نړیوالو لپاره رحمت

په داسي وخت کي چي پر انسانیت باندي د زنکندن حالت را چاپېره ؤ او دنیا د خپلو ټولو سامان الاتو سره یو ځای د هلاکت هغه ویرجني او ژوري کندي ته د ورغورځېدلو په حال کي وه، په همدغه اساس او خطرناک وخت کي الله ﷻ حضرت محمد ﷺ په وحي او رسالت سره مبعوث کړ تر څو هغه انسانیت ته چي ساه یې ستوني ته راغلې وه نوی ژوند وروبخښي او خلک د تورو تیارو څخه د روښنایي په لور وخوځوي هغه ﷺ انسانیت ته یوازي د یوه لا شریک ذات د بندګۍ بلنه ورکړه او د دنیا د ټولو بندګیو او مریتوبونو څخه یې وژغوره. د دنیا ربښتیني نعمتونه یې کوم چي انسانانو خپل ځانونه ورڅخه بې برخي کړي وو، د دوهم ځل لپاره هغوی ته ور په برخه کړل هغه کړی او ځنځیرونه چي هغو د اړتیا پرته په خپلو ځانونو کي اچولي وو ورڅني لیري کړل.

د حضرت محمد ﷺ بعثت بشریت ته نوی ژوند، نوې روښنایي، نوی ځواک، نوی ایمان، نوی یقین، نوی نسل، نوی تمدن او نوې ټولنه وبخښله.

هغه واټن چي د اسلام او جاهلیت تر منځ موجود و، د دې څخه اوږده فاصله هیڅیري نه وه خو دغه اوږده فاصله چي په څومره تېزۍ او سرعت سره طی سوه، په دنیا کي یې هیڅ ساری نسته، رسول الله ﷺ د یو معلم او مربي په حیث، د کتاب الله د شارع او مفسر په حیث، د شارع او شریعت جوړوونکي په حیث، د یو عادل قاضي په حیث، د یو حاکم، واکمن او فرمان ورکوونکي په حیث، د یو پېشوا او د تقلید د





نمونې په حیث، د یوه سپاه سالار او ستر قومندان په حیث خپل الهي رسالت په لنډه موده کي تر سره کړ.

## هغه جاهلي نړۍ چي حضرت محمد ﷺ ور سره مخامخ سو.

د رسول الله ﷺ د بعثت په وخت کي د نړۍ کیفیت کټ مټ هغه ماڼۍ ته ورته و چي بنسټ یې یو درنې زلزلې ښورولی وي.

رسول الله ﷺ چي کله په دې دنیا کي ساه واخیستله او په نبوت مبعوث سو هغه وخت ټوله نړۍ په تورو تیارو کي پټه او ډوبه وه، په هر ځای کي بربریت او وحشت خپور و، په ځینو ځایو کي د شرک او بت پالني لعنت منګولي ښخي کړي وې، په ځینو ځایو کي د جګړو میدانونه ګرم وه، په مصر، هندوستان، بابل، نینوا، چین او یونان کي چي کوم تمدن او پرمختګ موجود و د هغوی شمعي هم مړې سوي وې، د کنفوسیوس او ماني مذهب ښوونې چوپ او خولې یې بندي وې، د ویدا او بودائیت تصورات کښته وه، نه د بودایي دین د حکومت کومه نمونه موجوده وه او نه د برهمني دین کومي د یادوني ور نښانې په لاس راتلای سوای. د بودایي عارفانو د مینه والو حالت دا و چي د حکومت په اسره د دنیا غوښتني په مینه او د کمزورو عقایدو په نتیجه کي د خورا زیاتو شرموونکو چارو د سرته رسېدو مرتکب کېدل. اشرف المخلوقات (انسان) به د نباتاتو او جماداتو ته په سجده کولو کي هیڅ ځنډ نه کاوه، اروپا هغه مهال د ځیروونکو حیواناتو د هستوګني د یوه ځنګل په شان وه او اوسېدونکي یې د

حیواناتو څخه بد تریو د بل وینو ته تږي او ځانونه وژونکي وه، د رومي او ایراني تمدنونو د ځلېدا سره سره پاچایان خدایان ګرځېدلي وه، د اربابانو او مذهبي مشرانو یو والی رامنځ ته سوی و، د رعیت او ولس څخه درانه مالیات، رشوتونه، نذرونه او خراجونه اخیستل کېده، د هغوی څخه د حیواناتو په شان کار اخیستل کېدی، د دوارو تمدنونو او ځواکونو د جګړو په سبب به کله له یوې خوا او کله له بلې خوا ولسونه ځپل کېدل، د هغوی هیڅ فریاد او اواز چا نه اورېدی، هغوی د ظلم او تجاوز په خلاف اواز نه سوای پورته کولای، د هغوی د ستونزو او مشکلاتو هیڅ حل موجود نه و، د هغوی روحونه نا کراره او پرېشانه وه خو د چیغې، فریاد او اواز جواب د هیڅ لوري څخه هم نه اورېدل کېدی.

خپله په عربو کي د عادیانو او ثمودیانو په دوره کي او بیا د سبا، عدن او یمن د پاچایي په سیوري کي تمدن تېر سوی و خو اوس د هغوی تباه او پوپناه سوو قومونو پر کنډوالو چوپتیا خپره وه، په پاته عربو کي هري خوا ته بې نظمی او ګډوډی وې، د جګړو، جنګونو، چور او تالان بازار ګرم و په شرابو، زنا او خمار باندي د ولاړ جاهلي ثقافت او کلتور په زور او شور سره روان و. قریشو د بت پالني سره د کعبې شریفي د منجاوری کار و بار کاوه، عرب نه یوازي د ونو، ډبرو او نورو په لمانځونو لګیا وه بلکه هر بې کفایته شی به یې خپل معبود جوړ کړی و هغوی داسي مسخ سوي وه چي د ورځنیو څرګندو حقیقتونو د درک څخه عاجز پاته وه. د هغوی فکري نظام ګډوډ سوی و، د هغوی احساسات په بې هوده کارونو بوخت وه او احساس یې باطل سوی و، د دوست او خیر غوښتونکي سره به یې دښمني او د





دښمن سره به یې دوستي کوله په همدغه معاشره کي لېوه د څارویو د ګلې شپانه او ظالم ته د دښمنیو د کېنت دنده سپارل سوې وه.

په دې ټولنه کي مجرم خورا ښکمرغه او اسوده و او ښک انسان به په زحمت او تکلیف کي را ښکېل و، په دې ټولنه کي د اخلاقو، سپېڅلتیا او ښک چال چلند څخه بل لوی جرم او د بې عقلی، بد اخلاقی او بد سلوکی څخه بل ستر هنر او قابلیت نه متصور کېدی.

علامه مولانا سید ابوالحسن علي ندوي رحمه الله د هغه وخت جاهلي ټولنه په خپل کتاب ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین کي داسي انځور کړې ده: د دې ټولني کړه وړه او عادت داسي مهلک وه چي دنیا یې د هلاکت کندي ته ورټېل وهلې وه.

د شرابو څښل، بدمستي، بداخلاقي، لېونتوب، سود خوړل، لوېماري او د مال سره محبت، بوالهوسي وروستني پړاوو ته رسیدلي وه، بې دردي او بې رحمي دې حد ته رسیدلي وه چي ماشومي انجوني به ژوندی ښخېدلې او واړه ماشوم هلکان به په کوچنیوالي وژل کېدل.

مذهبي مشرانو به خپل ځانونه خدایان ګڼل، د خلکو مالونه به یې وړل او بې ځایه به یې مصرفول، کومه وړتیا چي د الله تعالی ﷻ له لوري انسان ته ورکړل سوې وه په ډېره بې دردی به ضایع کېدله، نه د هغوی څخه سمه ګټه اخیستل کېده او نه هغه د سم کار لپاره په کار لوېدلې وه، شجاعت او مېړاني د ظلم، زبردستی، اسراف، ځان ښکاره کولو، او غیرت د جاهلي مېړاني، ذکاوت او زیراکت د دوکه بازی او حیله سازی بڼه غوره کړې وه.

د عقل دنده یوازي دا وه چي د جرایمو لپاره یوازي نوي نوي لاري ولټوي او د ځان غوښتنو د پوره کولو لپاره نوي نوي طرحي پیدا کړي.

شخصیتونه او قیمتي انساني زیرمې د ډېرې مودې راهیسې بې ځایه ضایع کېدلې، هغه د داسې خام مال حیثیت اختیار کړی و چې هیڅ تجربه کار نه و ورغلی تر څو د تمدن په برخه کې صحیح انځور ورڅخه تیار کړي.

د منظمو قومونو پر ځای د لېوانو ګوګلی تر سترګو کېدلې، د چا چې هیڅ څاروان او شپانه نه و. سیاست هغه اوښ ته ورته و چې مهار یې نه درلود او ځواک یې توره وه چې د بدمست په لاس کې لوېدلې وه چې خپل ځان او نور یې وربانديي وهل.(۲)

# د رسول الله ﷺ نېکمرغه مېلاد او بعثت

په دغسې حالاتو کې حضرت محمد مصطفی ﷺ راپورته سو او په درویشتو کلونو کې یې نه یوازې عربي نړۍ بدله کړه بلکه د دغه خوځښت له برکته د پېړۍ په څلورمه برخه کې د هندوستان له پولو څخه نیولې تر شمالي افریقا پورې د نړۍ د یوې لویې برخې اخلاق، تمدن، سیاست او اقتصاد لنډه دا چې د ژوند ټولې څانګې او اړخونه سم او اصلاح سول او یو ستر بدلون پکښې تر سترګو سو.

رسول الله ﷺ په عربي جزیره کې داسې یو مخیز او اړخیز بدلون راوست که چېرې یو څوک درویشت کاله د مخه له عربو څخه وتلی وای او وروسته د درویشت کالو له تېرېدلو ناڅاپه و جزیرة العرب ته راستون سوی وای نو په خلکو کې به یې ستر بدلون لیدلی وای.

(۲) ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین، ص ۳۲.





په دې لنډ وخت کې چې د هر سړي په اخلاقو، اعمالو، وینا وو او کړنو کې بدلون لیدل کېدی نو هغه ته یوازې معجزه ویل کېدای سي او بس.

ښځې، نارینه، پېغلې، ځوانان، زاړه او واړه، کوڅې بازارونه، غونډۍ او کار و بار هر څه د یوه مخه او ښتي وه، د هغو لهجې، د هغوی معمولات او مصروفیات ټول بدل سوي وه، د مسجد په نوم یوه نوې اداره جوړه سوې وه چې په کوڅو او هرې محلې کې موجود وه او خلکو پکښې د دین علم لاس په لاس راوړه.

د الله تعالی ﷻ هدایات د هغه رسول ﷺ لارښووني د عمل لپاره طلب ګارو، علمي بحثونه او مجلسونه وه، د جنګ پر ځای د جهاد في سبیل الله خبرې اترې وې، د عبثو خبرو پر ځای د الله تعالی ﷻ ذکر، پنځه وخته لمونځونه، په هفته کې د جمعې او په کال کې د دوو اخترونو لمونځونه او د هغه لپاره د پاک ځای، بدن او جامو انتظام کول، د داسې غونډو جوړول چې پکښې د انسانانو د خیر او ښېګڼې ملي، ملکي او نظامي او هم نړیوال مسایلو ازادې خبرې اترې کېدې.

په ټول او ګز کې عدل، په وزنونو کې انصاف، د انسانانو تر منځ برابري او مساوات، نه په نسل فخر او نه د قبیلې په مشرۍ، نه د ژبې د برترۍ دعوا او نه د رنګ د سپینوالي غرور، ټول له خدایي د خدای ﷻ وه او ټول انسانان د خدای ﷻ بندګان وه هغه د ټولو معبود چې د هغه څخه پرته بل معبود نسته.

د غلطۍ او درواغو پر ځای هر لوري ته د رښتینولۍ شعار، په وعده وفا، په راکړه ورکړه کې اخلاص، د الله تعالی ﷻ څخه د بیرې کیفیت، نه فحشې خبرې او نه فحش کارونه، نه بې پرده ګي او نه بې حیایي، نه په غونډو کې عبثیات ویل، نه په پلار او نیکه د فخر کیسې

او نه د خپلي لوی لاپي شاپي، تر ټولو لوی نوم يوازي د الله تعالی ﷻ نوم و او د هغه د استازي پيروي تر ټولو ستر طرز العمل ګرځېدلی و.

هر لوري ته د نظم او ضبط، قيام او محاکم موجود و خو مجرمين نه وه، محاکم د ټولو لپاره يو شان د خليفه څخه نيولې تر عام انسان پوري د هيڅ چا تر منځ هيڅ امتياز نه و، دوکانداران د الله ﷻ د بيري لړزېدونکي د ناروا ګټو تصور بلکل ورک و، په لويانو کي شفقت، د ښوونې او روزنې جذبه، په کوچنيانو کي د ادب، احترام او پند لاس ته راوړلو احساس، فوځي د دين د سرلوړي په لار کي قدم پورته کولو ته تيار او شهادت ورته د دنيا تر ټولو نعمتونو غوره او بهتر و.

د ګاونډي سره د همدردی، ميني او محبت احساس، لنډه دا چي هر وګړی د سر څخه تر پښو، د پټ څخه تر ښکاره پوري داسي بدل سوی و لکه چي پخوانيو انسانانو د دې ځايه کډه کړې وي او پر ځای يې نوي انسانان هلته مېشت سوي وي د (ادخلو فی السلم کافه) انځور يې وړاندي کاوه.

د پيغمبر حضرت محمد ﷺ د مکې ژوند د ديارلسو کلونو او د مدينې ژوند لسو کلونو (د درويشت کلونو) په موده کي مځکه او آسمان بدل سول او د مځکي د مخ په نقشه کي نوی رنګ را پيدا سو، نوی دين، نوی قانون، نوی امت او نوی حکومت را منځ ته سو.

## رسول الله ﷺ دغه بدلون څنګه رامنځ ته کړ؟

په دغه لنډه ليکنه کي، د دې خبري تفصيلي بيان امکان نه لري، البته موږ به يې لويو لويو اصولو ته اشاره وکړو.





له ټولو څخه لومړی خبره چي هغه ﷺ خلک ورته را وبلل هغه دا وه چي ټول انسانان دي يوازي يو خدای ﷻ خپل بادار، اقا، څښتن، مالک او حاکم ومني د الله ﷻ څخه ماسوا دي د بل چا بندګی او واکمنی ته سر نه کښته کوي دغه يوازي د مذهب په چوکاټ او د مسجد په کونج کي نه بلکه د ژوند په ټولو معاملاتو کي دي، يوازي د لوی خدای ﷻ د اقتدار په وړاندي خپل سرونه ټيټ کړي.

دوهمه خبره چي د الله تعالی ﷻ د سپېڅلي استازي حضرت محمد ﷺ په لارښوونو کي شامله وه هغه دا وه چي د بشر ټولواکي او حاکميت دي پای ته ورسيږي، هر انسان دي په شخصي حيثيت کي خپل ځان د خدای ﷻ په وړاندي مسئول وبولي په دې ډول بشري ټولنه که د کورنيو، قبيلو او د طبقو په شکل کي وي او که د رياستونو او حکومتونو په شکل په هر حالت کي دي هغوی د خدای ﷻ په حضور کي خپل ځان ذمه وار او مسئول محسوس کړي.

حضرت رسول اکرم ﷺ خو په کائناتو کي د بشر د حيثيت همدغه مفکوره وړاندي کړه چي هغه په مځکه کي د خدای ﷻ خليفه دی، ده ته (انسان ته) چي څومره او په کوم حيثيت کي کوم اختيارات په لاس ورغلي دي هغه د ده ذاتي نه بلکه مجازي او د خدای ﷻ لخوا ورکړل سوي دي، د دې په استعمال کي به بالاخره خدای ﷻ ته جواب ورکوونکی وي.

د خدای ﷻ د باداری او د انساني خلافت په بنسټونو چي حضرت محمد ﷺ د بشري نوعي تر منځ د عادلانه يو والي او وحدت داسي پړی (رسی) وغزاوه چي هغه له بلي لاري نه سوای تر لاسه کېدای. نسل، نسب، وطن، اقتصادي ښېګڼي او نور ټول هغه شيان چي د يوې ټولني بنسټ جوړېدلای سي هغه په يقيني توګه بشري ټولنه په بېلابېلو ډلو

وېشي او یو د بل په مقابل کې یې دروي، غوښه او چاړه یې ګرځوي، په هغوی کې که چیرې څه موافقت او جوړښت په سترګو کیږي نو د اهدافو پر بنسټ نا پایښته او کمزوری جوړښت کېدلای سي، جګړه، وینه تویونه، اخ او ډب د دغه وېش په فطرت کې داخل دي او لازمه نتیجه یې ظلم او بې انصافي راوځي له دې ستر خطر څخه د خلاصون بله چاره نسته چې ټول انسانان دې د یوه خدای ﷻ په بندګۍ راټول کړل سي چې دوی به خدای ﷻ ته جواب ورکوونکي وي. د قام پالني او ډله ییزو طبقاتو پر ځای د خدای ﷻ د بندګۍ او د خلافت په تصور چې رسول اکرم ﷺ د نړۍ وال ولسي ژوند بنسټ کښېښود هغه پر خورا کلکو اخلاقي اصولو استوار و، هغه ﷺ چې کوم اخلاق نړۍ ته وړاندې کړل هغه د دنیوي ژوندي څخه د بېزارتیا او د درویشانه ژوند لپاره نه وه بلکه د هغو خلکو لپاره وه چې څوک د نړۍ په کار بوخت وه.

بزګر، مزدور، د کارخانې خاوند، ډاکټر، پولیس، فوځي، انجینر، قاضي، دوکاندار، والي، وزیر، جنرال، سفیر او پاچا لنډه دا چې ټولني ټول وګړي یې د خپل کار په دایره کې د اخلاقو په داسې ظابطه کې داخل کړل چې د هغو اصولو جوړول او د منځه وړل د افرادو او یا د ولس غوښتونو ته اړ نه ؤ.

رسول اکرم ﷺ ټولنیز ژوند، ځانګړي اړیکي، کار و بار، راکړه ورکړه، سیاست، اقتصاد، نړیوال تعلقات، جنګ او سوله لنډه دا چې د بشري ژوند ټول معاملات یې د اخلاقو پابند وګرځول.

دا هغه غټ اصول او قواعد وه چې پر هغو باندې حضرت محمد ﷺ خپل د اصلاح پروګرام استوار کړی و، د دغې کړنلارې د تطبیق لپاره هغه ﷺ د انفرادي اصلاح یعني د فرد جوړولو څخه پیل وکړ، د هغه ﷺ





څخه (د الله تعالی ﷻ د استازي په حیث) دا خبره پټه نه وه چې د ټولنیزې اصلاح د هرې نقشې محور د افرادو روزنه او جوړول دي، (ځکه دا صالح افراد دي چې صالح ټولنه ور څخه جوړیږي)، تر ټولو ښه نظام (ښه ټولنه) هم په داسې وګړو چې د اخلاقي لحاظه کمزورې وي بري ته نه سي رسېدلای.

د اخلاقي خام والي څخه چې د یوه نظام په ټینګښت کې کومې کمۍ (نواقص) پیښیږي هغه تش په کاغذ نه سي ډکېدلای، د کاغذ پر پاڼه د فساد مخنیوي په خاطر د ښه څخه ښه پلان ترتیبېدلای سي خو په عملي ډګر کې د دې نقشې د تطبیق لپاره په هر حال د افرادو اړتیاوي که دغه خلک پخپله د ځاني غوښتونو او تعصوبونو څخه ډک وي، د رښتیني ایمان او پخو اخلاقو څخه خالي وي نو ستاسي په دې نظام کې به د احتیاط سره سره داسې درزونه را پیدا سي چې ستاسي په ګومان کې به هم نه وي، نو په دې اساس حضرت رسول اکرم ﷺ لومړی خپل ټول قوت د داسې افرادو په تیارولو کې مصرف کړ چې د دې تګلارې مطابق په غوره طریقه د نړۍ د اصلاح وړ خلک وه.

هغه ﷺ داسې خلک وروزل چې په هر وخت کې له خدای ﷻ څخه بېرېدونکي او له بدۍ څخه ځان ساتونکي وه او په هغوی کې دا احساس و چې د ژوند په هره معامله کې به د خدای ﷻ په مخکې جواب ورکوونکي اوسي، هغوی د هغو کارونو څخه ډډه کوله چې د هغې په باره کې به د خدای ﷻ د ناخوښۍ اندېښنه وه او په هر هغه کار کې به یې هڅه کوله چې د هغه په هکله به ورته معلومه وه چې خدای ﷻ په دې کار راضي کیږي، هغوی (اصحابو ﷺ) به د الله ﷻ د رضا لپاره د هیڅ ډول سربښندنې څخه ډډه نه کوله د هغوی په زړونو کې د خدای ﷻ څخه پرته د هیچا بېره نه وه، هغوی د هیچا لورینې،

پېرزوینې او انعام ته لېوال نه وه د هغوی لپاره په انفرادي او ټولنیز ژوند کې هیڅ توپیر نه و هغوی د راز د پردو دننه هم هومره شرافتمند او پرهېزګار خلک وه چې په ولس او ټولنه کې په ډاګه باور وربانديکېدلای سوای، که چیرې د خدای ﷻ د بندګانو ځان، مال او ابرو دوی ته سپارل سوې وای نو دوی به په هغه کې خیانت ګرثابت سوي نه وای د خپل ځان، ولس او حکومت لخوا که چیرې دوی ته څه تعهد او ژمنه ورکړل سوې وای نو په هغه کې به پاتې نه وای راغلي، که چیرې هغوی د انصاف او عدالت پر تله کښېنول سوې وای نو د ظلم تصور ورڅخه نا ممکن و د راکړې ورکړې او سوداګرۍ په برخه کې د دوی څخه بد معامله څرګندونه سوه د خپل حق په غوښتنه کې دوی سست وه خو د حق په ورکړه کې ګړندي وه.

خپل ذهانت، هوښیارتیا، تدبر، استعداد او قابلیت به یې د ربښتینولۍ او انصاف په لار کې اچاوه (ﷺ) پوره پنځلس کاله.

حضرت محمد ﷺ د داسې افرادو په روزنه مصروف و چې په دغه لنډه موده کې یې د حق پالونکو وګړو یو داسې کوچنۍ ټولګۍ جوړه کړه چې یوازې یې د عرب قوم د اصلاح او سمون اراده نه درلوده بلکه د ټولې نړۍ د اصلاح هوډ یې کړی و چې په هغوی کې د عربو څخه پرته نور قومونه هم شامل وه.

بیا یې د یوه اسلامي ټولګۍ د تنظیم څخه وروسته د عامو خلکو د اصلاح او سمون په لړ کې په عملي هڅو لاس پورې کړ، یوازې د اتو کالو په موده کې یې د عربو په منځکه چې دوولس لکه مربع میله خپره وه یو بشپړ اخلاقي، اقتصادي، تمدني او سیاسي انقلاب را منځ ته کړ او بیا چې کله هغه منظم ټولګۍ د عربو د ټاپو وزمې د اصلاح او سمون څخه فارغه سوه نو پر وړاندې ولاړل او د هغه مهال د مهذبې





نړۍ زیاتې برخې ته یې د هغه انقلاب برکتونه ورسول چې په عربو کې منځ ته راغلی وو.[۲]

دا خوږ او سپېڅلی محمدي انقلاب او بدلون د زور، ځواک او توري په وسیله منځ ته نه و راغلی بلکه په توره یوازې هغه ځنځیرونه، قلفونه او فولادي دېوالونه مات او ونړول سول کوم چې ظالمو او جابرو واکمنو، قومي مشرانو، مذهبي رهبرانو د خلکو لاسونو او پښو ته وراچولي وه خو د انسانانو زړونه یې په عالي اخلاقو او نرمۍ سره فتح کړل، د دې پیغام د قبلولو لپاره هیڅوک نه دي وژل سوی، هیڅوک نه دي بندي سوی، د هغه لپاره بېره او ډار نه دی خپور سوی بلکه د دې انقلاب او بدلون روح انساني محبت او مینه وه چې رسول الله ﷺ په پوره مهربانۍ، زړه سوي، او د ښوونکي په توګه دیارلس کاله په مکه مکرمه او لس کاله په مدینه منوره کې د هغې لپاره هلې ځلې او کوښښ وکړ. د مکې په ښار کلي او کوڅو کې رسول الله ﷺ د خلکو څخه ښکنځل، بد رد، وهل ټکول، درې کاله اقتصادي بندیز او ډېر ناروا ظلمونه ولیدل خو له دې ټولو سره سره یې په پوره مینه، محبت، زړه سوي او مهربانۍ سره خلکو ته خپله بلنه او دعوت وړاندې کاوه، د هغه ﷺ ملګري او منونکي صحابه ﷺ پر ګرمو او سرو شګو لڅ لغړ او پړمخې واچول سوه، د هغوی پر شا او سینو درنې ډبرې کښېښودل سوې، د هغوی تر شا لاندې د اور سکروټې سرې او یخې سوې، د چا په غاړه کې رسۍ واچول سول او په کوڅو کې کش کړل سول، څوک د وهلو او ډُرو لاندې بې سده او بې هوښه سول او

(۲) دا برخه د حضرت محمد ﷺ د نړۍ سردار دی، د رسالې د ۱۱ مخ څخه نیولې بیا تر ۱۲ مخ پورې په لږ بدلون را اخیستل سوې ده.

ځيني د ظلم، زياتي او عذاب ورکولو په پای کي د خپل ژوند څخه بې برخي سول او په شهادت ورسېدل. کله چي مديني منورې ته راغلی د يهوديانو او منافقانو د دسيسو، توطيو او غداريو سره مخامخ سو، تر دې چي څو ځلي د هغه ﷺ د شهادت او وژلو پلانونه جوړ سول خو الله تعالی ﷻ خپل رسول ﷺ ور څخه خوندي وساته، سره له دي هم يهوديان او منافقان ازاد او بې غمه ګرځېدل او خپل شيطاني کارونه يې سر ته رسول. که د جګړې ډګر ته رسول الله ﷺ خپل ځواک او قوت وړاندي کړی هغه هم په داسي حال کي چي دښمن څو ځلي پر هغوی باندي تېری کړی او هغوی يې دې ته اړ کړي دي. د بدر، اُحد، او خندق درې نامتو او مشهوري غزاګاني د مديني منورې سره نژدې او د کفارو له سيمي څخه ډېري ليري سر ته رسېدلي دي.

د رحمت پيغمبر ﷺ په جګړو کي داسي پلانونه جوړول چي د دښمنانو څخه ډېر کم خلک ووژل سي او هغه هم داسي کسان چي د خپل فساد او شرارت څخه نه اوړي او موجوديت يې د بدن هغه تور سوي هډوکي ته ورته و چي ډاکټر يې د قطع کولو څخه پرته بل علاج نه ويني ځکه که پر خپل حال پاته سي ضرر يې د بدن نورو غړو ته سرايت کوي همدارنګه هغه ﷺ په جګړو کي داسي اصول او قوانين وړاندي کړ چي د جګړو شکل يې بدل کړ.

د نبوي سيرت د مطالعې او د رسول الله ﷺ د مبارک ژوند د مختلفو اړخونو د څېړلو، لوستلو او اورېدلو څخه بايد زموږ مقصد او هدف دا وي چي موږ د رسول الله ﷺ پيغام، ذکر، عبادت، اخلاق، تنظيم، کارنامې، حکمت او د کار طريقه زده کړو او ځانونه دې ته تيار او چمتو کړو چي لومړی موږ په خپل بدن او ځان کي انقلاب، بدلون او سموالی راولو بيا د خپل ځان څخه وروسته دا برکتونه، نعمتونه او





رحمتونه خپل هيواد او ټولني بلکه ټول انسانيت ته ورسوو تر څو د هغه څخه ټول انسانيت ګټه او فايده واخلي.

زموږ لپاره د حق يوازينی لار دا ده چي رسول الله ﷺ د خپل شخصي، اجتماعي او ټولنيز ژوند لارښود، رهبر او ښه نمونه ومنو، لکه الله تعالی ﷻ چي فرمايي:

لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا ﴿٢١﴾ (سورت الاحزاب، سورت ۳۳، آيت، ۲۱)

ترجمه:

په يقين سره تاسي لره د لوی څښتن په استازي کي ستره نمونه موجوده ده يعني رسول الله ﷺ د ژوند ټول اړخونه ستاسي لپاره يوه ښه بېلګه او نمونه ده.

موږ ته لازمه ده چي د بلي فلسفې، انقلاب او سياست پيروي ونکړو که داسي نه وي نو زموږ د ژوند ټولي هلي ځلي او کوښښونه به بې ځايه تللي وي، په دنيا او آخرت کي به خجالت او ملامت يو.

# نبوي اخلاق

دا د حضرت رسول اکرم ﷺ د ژوند هغه برخه ده چي په دې برخه کي د دوی ژوند د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام او مصلحانو څخه ځرګند او ممتاز دی که چيري د نورو اخلاقي مصلحينو او اخلاقي معلمانو ژوند تر څېړني لاندي ونيسو نو موږ ته به د هغوی د شخصي ژوند په



Scanned with CamScanner

هکله ډیري پوښتني بې جوابه پاته سي لکن رسول الله ﷺ په لوړ اواز دا اعلان کوي چي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ۝ (سورت الصف، سورت، ٦١، آیت، ٢)

ترجمه:

ای مومنانو ولي هغه څه وایاست چي خپله عمل پري نه کوئ.

حضرت محمد ﷺ د خپل تعلیم یوه ښکاره نمونه وه، هغه ﷺ به چي په عامو ټولنو کي خلکو ته څه ویل په خپل کور او خلوت خانه کي به هم هغه راز لیدل کېدی او د کوم عمل او اخلاقو چي به یې خلکو ته درسونه ورکول د خپل ځان څخه به یې د هغو درسونو عملي تصویر جوړاوه، د انسان په اخلاقو او رازونو بې د هغې د خپلي مېرمني څخه بل څوک پوره نه سي پوهېدلای، یو څو اصحاب ﷺ حضرت عایشې ﷺ ته راغلل او د هغې څخه یې غوښتنه وکړه چي موږ ته د حضرت رسول اکرم ﷺ اخلاق بیان کړه، هغې د دغو اصحابو ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي تاسي قرآن کریم لولئ؟ بیا یې صحابه وو ته وویل: (کان خُلقه القران) یعني قرآن د هغه اخلاق و.[۴] د دې خبري معنی داده چي رسول الله ﷺ نړۍ ته یوازي د قرآن کریم تعلیمات نه و وړاندي کړي بلکه خپل ځان یې د مجسمي نمونې په توګه ورښوولی و، په قرآن کریم کي چي د کوم شي امر وسو هغه ﷺ تر ټول زیات ورباندي عمل وکړ، په هغه کي چي به د کوم شي څخه منع وسوه نو هغه ﷺ به تر ټولو زیات ورڅخه ډډه وکړه، په قرآن کریم کي چي کوم اخلاقي صفتونه او فضلیت وښودل سول تر ټول زیات د هغه ﷺ شخصیت پوري متصف و

[۴] صحیح مسلم، ابوداود، احمد.





او په هغه کي چي کوم صفتونه ناوړه وښودل سول تر ټولو زیات هغه ﷺ ور څخه مبراء او پاک و یا په بل عبارت ژوندی قرآن و نو ځکه الله تعالی ﷻ فرمایلي دي:

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝ (سورت القلم، سورت، ٦٨، آیت، ۴)

ترجمه:

بېشکه ته د ډیرو لویو اخلاقو خاوند یې.

وړاندي له دې چي د حضرت محمد ﷺ د اخلاقو په شاوخوا کي جزوي او تفصیلي واقعات ولیکل سي د هغو اصحابو کرامو ﷺ بیانونه ولیکل سي چي هغوی د رسول الله ﷺ په خدمت او حضور کي موده او کلونه تېر کړي دي او دغه د پیغمبر ﷺ د اخلاقو د دفتر د یو یو توري څخه خبر او د هغو په اسرارو پوه ول، په دنیا کي د انسان د حالاتو څه ښځه د خاوند په حالاتو د هر چا څخه پوه او خبره وي، حضرت خدیجة الکبرای ﷺ چي د نبوت څخه وړاندي او د نبوت څخه وروسته یې تر ۲۵ کلونو پوري د دوی سره د ښځي او کوروالا په حیث یو ځای ژوند کړی و، د وحي د ابتدا او شروع په زمانه کي به یې حضرت رسول الله ﷺ ته په دې الفاظو تسلي ورکوله (هیڅکله نه، زما دي په خدای ﷻ قسم وي، خدای ﷻ به تا هیڅکله خپه او غمجن نه کړي، ته د خلکو سره صله رحمي کوې د پوروړو بارونه پر اوږه اخلې، د غریبانو سره مرسته کوې، د مېلمنو عزت او درناوی کوې او هغوی ته ډوډۍ ورکوې، د حق مرسته کوې د غمونو او مصیبتونو په وخت کي د خلکو په کار رېږې).[۵]

[۵] صحیح بخاري، باب بدا لوحی.

په امهات المؤمنین یعني د پیغمبر ﷺ په بي بي ګانو کي د حضرت عایشې رضي الله عنها څخه ډېر د رسول الله ﷺ اوصاف بل چا په دومره تفصیل سره نه دي بیان کړي، دا وایي چي: (حضرت رسول الله ﷺ چا ته د بدو او سپکو ویلو عادت نه درلود او د بدو په مقابل کي به یې د چا سره بد نه کول بلکه د هغو بدو څخه به تېرېدی او هغه به یې معاف کاوه[6] که دوی ته به په دوو خبرو کي اختیار ورکړل سو نو په هغو کي به یې هغه خبره خوښوله چي هغه به اسانه وه په دې شرط چي هغه به ګناه نه وه او که به ګناه وه نو ډېره به یې ورڅخه کوله، پیغمبر ﷺ هیڅکله د چا څخه په خپلو شخصي چارو او معاملو کي بدل او انتقام نه دی اخیستی لکن که چا به د خدای ﷻ له حکم څخه مخالفت وکړ نو ده ﷺ به د هغه انتقام او بدل اخیست[7] یعني رسول الله ﷺ به د خدای ﷻ لخوا د خدای ﷻ د حکمونو سره سم په هغه حد جاري کاوه). حضرت محمد ﷺ هیڅکله د چا د نامه اخیستلو څخه وروسته په کوم مسلمان لعنت نه دی ویلی او نه حضرت محمد ﷺ کومه مینځه او یا مریی (غلام) او نه کومه ښځه، کوم خادم[8] او یا کوم څاروی په خپل لاس نه دی وهلی.

رسول الله ﷺ هیڅکله د چا غوښتنه نه ده رد کړې لکن په دې شرط چي هغه به ناروا غوښتنه وه[9] پیغمبر ﷺ به کور ته په داسي حال کي راتلی چي تندی (تنده) به یې پراخ او خوله به یې د خندا څخه ډکه وه.

[6] جامع ترمذي او شمائل ترمذي.

[7] صحیح البخاري، صحیح مسلم او ابوداود، کتاب الادب.

[8] دا تفصیل د صحیح مسلم، ابوداود او د حدیثو په نورو کتابو کي د عایشې رضي الله عنها څخه په مختلفو روایتونو کي راغلی دی

[9] حاکم په متصل سند سره، او د دې روایت ځیني برخي په صحیح مسلم کي هم سته





هر کله چي به دوی د دوستانو سره په مجلس کي ناست و نو هیڅکله به یې پښې نه غزولې[10] او خبري به یې په داسي دمه دمه او کراره کولې که چا به یادولې نو په یادولای به یې سوای[11]، حضرت علي رضي الله عنه څخه چي پیغمبر روزلی و او د نبوت د پیل څخه تر پایه پوري یې د دوی په مقدس خدمت کي تقریباً درویشت کلونه تېر کړي وه یو ځل امام حسین رضي الله عنه د خپل ګران او محبوب نیکه (رسول الله ﷺ) د اخلاقو او عاداتو په هکله پوښتنه وکړه، حضرت علي رضي الله عنه په جواب کي ورته وویل چي حضرت محمد ﷺ د خلاص تندي، نرم خوی او مهربانه طبیعت خاوند و او د سخت زړه او تنګ نظر خاوند نه و، د چا په مقابل کي به یې شور نه کاوه او نه به یې کومه بده خبره د خولې څخه ایستله، عیب جو او سخت ګیر نه و، که کومه خبره به یې خوښه نه سوه په هغې به یې سترګي پټولې او اغماض به یې وریاندي کاوه او که چا به ورڅخه د هغې خبرې د منلو هیله کوله نو هغه به یې نه نا امیده کاوه او نه به یې د هغې منظورول څرګندول یعني په ښکاره او څرګند ډول به یې د هغه تردید نه کاوه بلکه چپ به او سېده او څوک چي به د دوی په طبیعت پوهېدل هغوی به د دوی د وضعیت څخه په اصل مقصد پوهېدل.

پیغمبر ﷺ د درو خبرو څخه خپل ځان بیخي خلاص کړی و، د بحث او مباحثې څخه، د ضرورت څخه د زیاتو خبرو او په کومه خبره کي چي به یې مطلب نه و یعني د بې مطلبه خبرو څخه ځان ژغورل، د نورو خلکو په اړه به یې هم د درو خبرو څخه ډډه او پرهېز کاوه، چا ته به یې

[10] ابن سعد.

[11] صحیح بخاري، صحیح مسلم او ابوداود.

بد نه ویل، د چا عیبونو ته به یې ګوته نه نیوله او نه به یې د چا د شخصي او پټو حالاتو د معلومولو هڅه کوله، هغه خبري به یې کولې چې د هغو څخه به ګټوره نتیجه اخیستل کېدله، هر کله چې به پیغمبر ﷺ خبري کولې نو اصحاب کرام ﷺ به د دوی د خبرو اورېدلو لپاره داسي چپ او څوړند سرونه ناست وو لکه چې پر سرونو یې مرغان ناست وي او هر کله چې به دوی چپ سول نو وروسته به اصحابو په خپلو کي سره په خبرو پیل کاوه او که بل چا به خبري کولې نو تر څو چې به هغه خپلې خبري نه وې خلاصي کړې تر هغې به دوی چپ ناست وو او د هغه خبري به یې اورېدلې، په کومه خبره چې به خلکو خندل نو دوی ﷺ به هم مُسک سول، په کومه خبره به چې خلکو تعجب وکړ نو دوی به هم تعجب کاوه او که د د باندي څخه به کوم نا بلده شخص راغی او په بې باکۍ سره به یې خبري وکړې نو دوی ﷺ به صبر او تحمل کاوه، د نورو څخه به یې خپله ستاینه او تعریف اورېدل نه خوښول لکن که چا به د دوی ﷺ د احسان او انعام په مقابل کي له دوی څخه تشکر وکړ نو هغه تشکر به یې مانه تر څو چې به خبري کوونکي خپلې خبري نه وې خلاصي کړې او نه به و چپ سوی نو دوی ﷺ به د هغه خبره نه پرېکوله. سبحان الله!!! [12]

پیغمبر ﷺ ډېر زیات فیاض، ډېر رښتینی، ډېر زیات د نرم طبیعت خاوند او د ډېر خوږ او ښه صحبت خاوند و که چا به دوی ﷺ دفعتاً ولیدل نو مرغوب به سول او تر اغیزي لاندي به یې راغلل لکن څو مره

[12] دا پوره تفصیل د شمائل ترمذي د اخلاقو په پای کي راغلي دي او وګوره سیرت النبي د علامه شبلي نعماني رحمه الله لیکنه: ج ۲، ص ۲۲۴، کابل چاپ.





چې به ورسره اشنا کېدی نو هغو مره به یې ورسره مینه پیدا کېدله [13] هنده بن ابي هاله چې د پیغمبر ﷺ په خوا کي روزل سوی و [14] وایي چې رسول الله ﷺ د ډېر نرم طبیعت خاوند و او د سخت مزاج خاوند نه و، په چا باندي یې سپکه نه پېرزو کېدله، په وړو او کوچنیو خبرو به یې د خلکو څخه تشکر کاوه، کوم شي ته به یې بد نه ویل، هر ډول خواړه چې به ورته کېښېښودل سول هغه به یې خوړل او بد یې نه ورته ویل، که چا به د یو حق کار مخالفت وکړ نو دوی ﷺ به په قهر او غصه کېدل او د حق پوره حمایت او مرسته به یې کول لکن په خپله شخصي معامله کي دوی هیڅېري او هیڅ وخت نه دي په قهر سوي او نه یې د چا څخه بدل او کسات اخیستی دی.

لکه مخکي چې مو وویل حضرت علي رضي الله عنه، حضرت عایشه رضي الله عنها، حضرت انس رضي الله عنه، حضرت هنده بن ابي هاله رضي الله عنه او نور چې ډېري مودې یې د عالمیانو د رحمت ﷺ په خدمت کي تېر کړي دي او د دوی په حضور کي اوسېدلي وو، ټول په اتفاق او یوه خوله دا خبره بیانوي چې رسول الله ﷺ د نرم مزاج، ښو اخلاقو، ښه خوی او خندان مخ خاوند و، په ډېر وقار او متانت به یې خبري کولې او د هیچا زړه به یې نه خپه کاوه.

د پیغمبر ﷺ دا عادت و چې د چا سره د ملاقات په وخت کي به یې اول هغه ته سلام کاوه او هغه ته به یې د روغبړ او مصافحې لپاره لاسونه ورکول او که چا به د دوی ﷺ سره په غوږ کي پټه خبره کوله نو تر هغې چې به هغه نه و ایسته سوی یعني خپله خبره به یې نه وه خلاصه

[13] دا برخي د ترمذي د شمائلو د مبارکي حلیې په بیان کي راغلي دي.

[14] ترمذي شمائل.

کړي نو دوی ﷺ به ورڅخه مخ نه اړاوه او په مصافحه کي د دوی دا عادت و يعني چا ته چي به يې لاس ورکړ نو تر څو چي به هغه کس د دوی لاس نه وپرې ايښی دوی ﷺ به د هغه لاس نه پرېښود او که په مجلس کي به کښېناستل نو په دغه وخت کي به يې هيڅکله خپل ځنګونه د نورو خلکو څخه نه وړاندي کول يعني دوی ﷺ په داسي حال کي چا نه وليدلی چي د دوی ﷺ ځنګونه دي د مجلس د خلکو څخه وړاندي وتلي وي.[15]

ډېرو مزدورانو، مينځو او مريانو به پيغمبر ﷺ ته د دې لپاره اوبه راوړلې چي په هغو اوبو کي خپل مبارک لاس ووهي او په خپل لاس دغه اوبه مشرفي کړي او که دا خلک به د دغه کار لپاره په ژمي کي يا د ورځي او يا سهار وختي راغلل نو سره له دې به هم دوی ﷺ انکار نه کاوه او د دوی دغه هيله به يې تر سره کوله.[16]

يو ځل رسول الله ﷺ د سعد بن عباده کره د هغه د ليدلو لپاره ولاړی، هر کله چي د هغه له کور څخه يې د بېرته تللو اراده وکړه نو هغه خپل زوی (قيس) ته وويل چي د دوی ﷺ په رکاب کي د دوی ﷺ سره ولاړ سه، پيغمبر ﷺ قيس ته وويل چي ته هم زما سره پر اوښ سپور سه، قيس د ادب په لحاظ چپ سو نو رسول الله ﷺ ورته وويل چي يا زما سره پر اوښ سپور سه او يا بېرته خپل کور ته ولاړ سه، د پيغمبر ﷺ د دې خبري په اثر قيس بېرته کورت راغلی.[17]

(15) ابوداود او ترمذي

(16) صحيح مسلم، باب في قرب النبي ﷺ من الناس

(17) سنن ابوداود، کتاب الادب





يو وخت د (نجاشي) لخوا يو سفير يا استازی راغی، پيغمبر ﷺ دغه سفير مېلمه کړ او په خپل لاس يې د مېلمستيا ټول کارونه تر سره کړل، اصحابو عرض وکړ چي موږ به دا کارونه وکړو، رسول الله ﷺ ورته وويل چي دې خلکو زما د دوستانو خدمت کړی دی نو زه غواړم چي پخپله د دوی خدمت وکړم.[18]

د عتبان بن مالک ﷺ (چي د بدر په اصحابو کي و) د سترګو ديد کم سوی و، دی د پيغمبر ﷺ حضور ته راغی او غوښتنه يې وکړه چي زه د خپلي محلې په مسجد کي خلکو ته لمونځ ورکوم لکن په باران کي مسجد ته تلل راته سخت وي نو که تاسي زما کورته راسئ او زما په کور کي لمونځ وکړئ نو زه به پر هغه ځای لمونځ کوم، په بله ورځ رسول الله ﷺ د سهار په وخت کي حضرت ابوبکر صديق ﷺ د ځان سره ملګری کړ او د عتبان کورته ورغی او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي زه په کوم ځای کي لمونځ وکړم؟ هغه ورته ځای وښودی نو پيغمبر ﷺ پر هغه ځای دوه رکعته لمونځ وکړ د لمانځه څخه وروسته خلکو پيغمبر ﷺ ته د ډوډۍ خوړلو لپاره ډېر ټينګ ست وکړ او في الحال يې حريره (د يو ډول خوړو نوم دی چي د کوفتې څخه جوړېږي) د خوړلو لپاره راوړه د کوڅې او محلې ټولو خلکو په دغو خوړو کي ګډون وکړ په دغو خلکو کي چا وويل چي په دې مجلس کي مالک بن وخنش نه ليدل کېږي بل شخص د هغه په جواب کي وويل چي هغه منافق دی، رسول الله ﷺ وويل چي داسي خبري مه کوئ، هغه کلمه وايي؟ خلکو وويل هو، لکن سره له دې هم هغه د منافقانو سره تار او رابطه لري،

(18) سيرت النبي د علامه شبلي نعماني ليکنه، ج ٢، ص ٢٢٢، د قاضي عياض د شرح شفانه، د بيهقي د اخلاقو د جلد په حواله.

رسول الله ﷺ وویل څوک چې د خدای ﷻ د رضاء لپاره (لا اله الا الله) ووايي، الله تعالی ﷻ پر هغه شخص اور حراموي[19]، د هجرت په ابتدا کې پخپله رسول الله ﷺ او نورو ټولو مهاجرینو د مېلمنو په ډول انصارو په یو یو کور وېشل سوي وه (مقداد بن الاسود) وايي چې زه په هغه ډله کې وم په کومه ډله کې چې پخپله رسول الله ﷺ هم و، په دغه کور کې یو څو وزې وې چې د دغو وزو په شیدو به موږ ګذاره کوله. په دې ترتیب چې شیدې به ولوشل سوې نو هر چا به خپله خپله برخه شیدې وچښلې او د رسول الله ﷺ برخه به یې په یوه پیاله کې پرېښووله، یوه شپه رسول الله ﷺ د کوم ضرورت په خاطر په خپل ټاکلي وخت را ونه رسېدی، خلکو خپله خپله برخه شیدې وچښلې او ویده سول هر کله چې رسول الله ﷺ راغی او خپله پیاله یې ولیده نو خالي او تشه پرته وه، د دې تشې پیالې په لیدلو چپ سو او بیا یې وویل، اې خدایه! څوک چې ماته خواړه راکوي ته هم هغه ته خواړه ورکړې، حضرت مقداد ﷺ چاړه واخیسته او د دې لپاره پاڅېده چې یوه وزه حلاله کړي او د رسول الله ﷺ لپاره د هغې غوښه پخه کړي، پیغمبر ﷺ مقداد له دغه کار څخه منع کړ او یوه وزه یې بیا دوباره ولوشله هر څو مره لږې یا ډیرې شیدې چې ور څخه واخیستل سوې هغه یې وچښلې او بیده سو[20] او په دې کار یې هیڅوک ملامت نه کړ.

یو ځل نبي کریم ﷺ د غره په یوه دره کي پر اوښ سپور روان و په دې وخت کي عقبه بن عامر ﷺ نومي صحابي هم د دوی سره ملګری و، رسول الله ﷺ دغه صحابي ته وویل چې ته هم زما سره پر اوښ سپور

[19] د صحیح البخاري د لومړي ټوک [illegible] كتاب الصلوة
[20] مسند حنبل، ۲ ټوک، ۴ مخ





سه، دغه صحابي ته دا کار مناسب ښکاره نه سو چې رسول الله ﷺ دې پلی (پیاده) وي او زه دې سپور یم، رسول الله ﷺ ده ته بیا وویل، د دوهم حکم څخه انکار کول هم نو موړي صحابي ته ګران او یو بې ادبي ښکارېده، نو رسول الله ﷺ د اوښ څخه کښته سو او دی پر اوښ سپور سو.[21]

رسول الله ﷺ به په مجلسونو کي بې خونده خبرې او وضعیتونه ګالل او هغه به دغه کارونه چا ته نه څرګندول کله چې د رسول الله ﷺ نکاح د حضرت زینب ﷺ سره وسوه نو نبي کریم ﷺ خلکو ته د ولیمې ډوډۍ وکړه یو شمېر خلک د ډوډۍ خوړلو وروسته هم تر ډېره کښېنستل او په خبرو اخته سول، په دغه وخت کي لا د پردې حکم نه و نازل سوی او حضرت زینب ﷺ په دغه مجلس کي حاضره وه، که څه هم رسول الله ﷺ غوښتل چې دا خلک ولاړ سي لکن په خوله یې څه نه ویل او خلکو هم څه فکر نه کاوه چې دا زموږ کار څنګه کار دی، رسول الله ﷺ د مجلس څخه پورته سو او د حضرت عایشې ﷺ خوني ته ولاړ، هر کله چې د څه ځنډ وروسته راغی نو مجلس هم هغه راز تود و، دی بیرته بیا ولاړی او بیا دوباره بیرته دغه مجلس ته راغی چې په دغه وخت کي د پردې او حجاب آیت نازل سو.[22]

یو صحابي وايي چې زه په کوچنیوالي کي د انصارو د خرماوو بڼ (باغ) ته تلم او د خرماوو ځانګې به مې په ډبرو او لوټو ویشتلې او په دې ترتیب به مې د خرماوو د لښتو څخه خرماوي راټولولې، د دې کار په اثر خلکو زه ونیولم او د رسول الله ﷺ حضور ته یې بوتلم، رسول الله

[21] نسائي، ۸۰۳ مخ
[22] صحیح بخاري، ۹۲۳ مخ. باب اية الحجاب

ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي ولي دي ولي په لوټو ولې؟ ما ورته وویل چي د دې لپاره چي خرماوي راتوی کړم، رسول الله ﷺ راته وویل چي هغه خرماوي چي پخپله پر مځکه رالوېدلي وي هغه خوره او په لوټو ويشتل مه کوه، له دې وینا وروسته یې زما پر سر لاس تېر کړ او ما ته یې دعا وکړه.(۲۳)

یو وخت په مدینه منوره کي قحطي پېښه سوه، د مدینې منورې یوه اوسېدونکي له ډيري لوږي یو باغ ته ننوت او مېوې یې وشکولې، څه یې په لمن کي واچولې او څه یې وخوړلې، هر کله چي د باغ خاوند د دغه کس په دې کار خبر سو نو هغه یې ډېر وواهه او کالي یې ور څخه واخیستل، وهل سوی کس د عرض لپاره رسول الله ﷺ ته ورغی چي په دې وخت کي د باغ خاوند هم ورسره ملګری و او د رسول الله ﷺ حضور ته حاضر سول، رسول الله ﷺ د باغ خاوند مخاطب کړ او ورته یې وویل، دی ناپوه و تا باید پوه کړی وای، دی وږی و تا باید موړ کړی وای، له دې وینا وروسته یې د باغ د خاوند څخه د هغه کس کالي بیرته واخیستل او هغه ته یې بیرته ورکړل او هغه کس ته یې د خپل ځان څخه شپېته صاع (چي د هغه وخت مخصوصه پیمانه وه) غله ورکړه.(۲۴)

که د چا کوم کار به یې خوښ نه سو نو خبره به یې هغه ته مخامخ نه یادوله لکه چي یوه ورځ یو صحابي په ژړو کالو کي د رسول الله ﷺ

(۲۳) ابوداود، کتاب الجهاد.

(۲۴) صحیح البخاري او ابوداود، کتاب الادب، ۲ ټوک





حضور ته راغی، رسول الله ﷺ مخامخ دغه شخص ته هیڅ ونه ویل مګر هر کله چي هغه ولاړی نو چا ته یې وویل چي دغه رنګ و مینځی.(۲۵)

یو ځل یو شخص د ملاقات اجازه وغوښته، رسول الله ﷺ هغه ته د ملاقات اجازه ورکړه او وې ویل چي دا شخص د خپلي قبیلې ښه شخص نه دی لکن هر کله چي هغه د رسول اکرم ﷺ حضور ته راغی نو رسول اکرم ﷺ د هغه سره په ډېر نرم وضعیت خبرګي اتري وکړې، حضرت عایشې رضي الله عنها په دې کار ډېر تعجب وکړ او ورته وې ویل چي تاسي خو دا شخص ښه نه ګاڼه او سر له دې مو د هغه سره په داسي مینه او مهربانۍ خبري وکړې، رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل چي د الله تعالی ﷻ په نزد ډېر بد شخص هغه شخص دی چي د هغه د بدي او سپکي خولې له کبله خلک د هغه سره ناسته ولاړه پرېږدي.(۲۶)

لوستونکو ته دي معلومه وي چي یهودیان د اسلام او مسلمانانو ډېر سخت دښمنان وه او دغو بدبختانو د مسلمانانو سره ډېر سخت تعصب درلودی خو له دې ټولو دښمنیو او کینو سره سره رسول الله ﷺ له دې بدبختو او سخت زړو خلکو سره تل په ډېر لطف او مهربانۍ سره چلند کاوه، د دوی سره به یې معاملې او راکړه ورکړه کول او که ډېر به په قهر سو نو د ډيري غصې په حالت کي به یې دومره وویل (د ده یا د هغه تندی دي په خاورو ککړ سي).(۲۷)

رسول الله ﷺ د بې ساري فصاحت او بلاغت خاوند و، سلیسي، رواني، لنډي، با معنی او بې تکلفه خبري یې ځانګړتیا وه. رسول الله

(۲۵) ابوداود، کتاب الجهاد، ۱ ټوک.

(۲۶) صحیح البخاري او ابوداود، کتاب الادب، ۲ ټوک.

(۲۷) د امام بخاري، ادب المفرد.

ﷺ ته جوامع الكلم والحكم وركړل سوي و د داسي بياني كمال درلودونكي و چي زيات مفاهيم يې په ډيرو لنډو ټكو كي بيانول او د ډير زيات حكمت او كمال خاوند و، د عربانو په مختلفو لهجو ښه پوهېدی او د هري قبيلې سره به يې به د همغي قبيلې پخپله لهجه خبري كولې، په حاضر جوابی كي لكه د كوچيانو (صحرايانو) په شان و، د كلماتو په نظم، غوراوي او استعمال كي لكه د ښار اوسېدونكی داسي و، په الهي مرستي سره چي د وحي په صورت كي ورته راتله د زيات حلم، حوصلې، مهرباني او بخښني خاوند و، د قدرت په وخت كي عفوه، د مشكلاتو په وړاندي صبر او مقاومت هغه صفتونه وه چي الله تعالی ﷻ ورباندي پېرزو كړي وه، انسان كه هر څومره حليم او برد وبارسي خو بيا هم كله نا كله د سختی څخه كار اخلي، خو رسول الله ﷺ داسي حليم و چي كه هر څومره اذيت او ضرر به ور ورسېدی بيا به يې هم د صبر او حوصلې لمن نه پرېښوده، د هر جاهل په وړاندي يې د حلم او صبر څخه كار اخيست.

رسول الله ﷺ له ټولو څخه زيات سخي او كريم و، داسي بخششونه يې وركول تا به ويل لكه د فقر څخه بالكل بېره نه لري، ابن عباس ؓ وايي: رسول الله ﷺ له ټولو څخه زيات سخي و، په رمضان (روژه) كي به چي جبرائيل عليه السلام ورته راتلی سخاوت يې نور هم زياتېدی، د رمضان (روژې) په مياشت كي به هره شپه جبرائيل عليه السلام ورته راتلی قرآن كريم به يې ورته تلاوت كاوه، رسول الله ﷺ د خير او نېكی په كارونو كي د سهار د نسيم څخه زيات مهربان او محرك و. (٢٨)

(٢٨) صحيح بخاري، ١ ټوک، ٥٠٢ مخ.





جابر ؓ وايي: رسول الله ﷺ هيڅكله د چا د سوال په جواب كي (نه) نه دي ويلي. (٢٩)

په شجاعت، د نورو سره مرسته، همكاري او تعاون كي يې ساری نه درلود. د عمل په ډګر كي يې په اثبات رسولې چي د هر چا څخه د زيات غيرت او شجاعت خاوند و، په داسي مواقعو كي يې مقاومت كړی چي بل چا هلته د مقاومت توان نه درلود، په ډيرو سختو حالاتو او شپېو كي به د غره په شان پر خپل ځای ولاړ و. نه يوازي پر شا تګ يې نه كاوه بلكه مخ په وړاندي به روان و، داسي قهرمان او پهلوان به نه وي چي يو او يا څو ځله يې د ميدان څخه عقب نشيني نه وي كړې خو رسول الله ﷺ پخپل ژوند عقب نشيني او پر شا تګ نه دی كړی، حضرت علي ؓ وايي: كله به چي جګړه ګرمه سوه سترګي به سرې سوې، نو موږ به د رسول الله ﷺ خوا ته ورتلو او د ده په حمايت كي به مو ځانونه ساتل، هيڅوک به د رسول الله ﷺ څخه زيات دښمن ته نژدې نه و. (٣٠)

انس ؓ وايي: يوه شپه د مدينې خلكو د خطر احساس وكړ، ږغ يې ترغوږو سو، يوه ډله خلک په ږغ پسي ووتل، د لاري په اوږدو كي يې رسول الله ﷺ وليدی چي بيرته را روان دی، د ابو طلحه پر شاتوري آس سپور و، له ټولو څخه مخكي په هغه ږغ پسي ور وتلی و، توره يې په غاړه كي وه او فرمايل يې: (مه بېرېږئ، مه بېرېږئ). (٣١)

(٢٩) صحيح بخاري، ١ ټوک، ٥٠٢ مخ.
(٣٠) الشفا بتعريف حقوق المصطفی ١٠/٨٩.
(٣١) صحيح مسلم، ج ٢، ص ٢٥٢. صحيح بخاري، ج ١، ص ٤٠٧.



Scanned with CamScanner

په حیا او چشم پوشۍ کې له ټولو څخه لوړ او مخکې و، ابو سعید خدري ﷜ وايي: رسول الله ﷺ د مستورې پیغلې څخه زیاته حیا درلوده، د کوم شي څخه چې به یې نفرت کېدی او بد به یې ورځخه راغلل نو د کراهت نښانې به یې په مخ مبارک کې ښکاره کېدلې.[۳۲]

چا ته به یې مخامخ ډېر نه کتل بلکه مبارکې سترګې به یې یوې او بلې خوا ته اړولې، مځکې ته به یې د اسمان څخه ډېر کتل (یعني کښته به یې کتل)، ډېر غور، تدبر او تفکر به یې کاوه، کوم څه به یې چې د چا څخه خوښېدل هغه به یې یادول، چې چا ته به یې نصیحت کاوه او یا به یې د چا عیب بیانا وه نو نوم به یې نه اخیست بلکه ویل به یې، د هغه چا حال به څه وي چې داسې او هسې کارونه کوي.

رسول الله ﷺ د زیات عدل، عفت، صدق، امانت او استقامت درلودونکی و، دښمنان د دوستانو څخه مخکې د ده په امانت، صداقت، او عفت اعتراف کوي، د اسلام څخه مخکې په امین مشهور سوی و ټولو به خپل امانتونه د ده سره اېښول او ټولو به د حکم په توګه مراجعه ورته کول.

امام ترمذي روایت کوي چې ابو جهل رسول الله ﷺ ته وویل: موږ تا دروغجن نه شمیرو بلکه هغه څه چې دې راوړي هغه دروغ بولو، همدا وه چې الله تعالی ﷻ دغه آیت نازل کړی.[۳۳]

[۳۲] صحیح بخاري، ج ۱، ص ۵۰۴
[۳۳] مشکات المصابیح، ج ۲، ص ۵۲۱





قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ ۖ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿۳۳﴾ (سورت انعام، سورت۶، آیت،۱۳۳)

ترجمه:

هغوی تا دروغجن نه ګڼي بلکه دا ظالمان د الله ﷻ آیتونه نه مني.

هرقل د روم امپراطور د ابو سفیان څخه پوښتنه وکړه، ایا تاسو د حضرت محمد ﷺ څخه مخکې له دې چې د نبوت دعوه وکړي دروغ اورېدلي وه؟ ابو سفیان چې هغه وخت یې لا ایمان نه و راوړی ورته وویل، هیڅکله نه.

رسول الله ﷺ ډېر متواضع او بې کبره شخص و، دا یې نه خوښول چې خلک د شاهانو په شان معامله ورسره وکړي او ورته ولاړ سي، د فقیرانو پوښتنه یې کوله او د اصحابو ﷺ په منځ کې به د عادي شخص په توګه ناست و.

حضرت عایشه ﷺ وايي: رسول الله ﷺ خپلې چوټې او بوټونه پخپله ګنډل، خپلې جامې به یې هم ګنډلې، په خپل کور کې به یې پخپله کار کاوه، هغه د نورو انسانانو په شان و، جامې به یې ګنډلې، مېږې یې لوشلې او خپل خدمت به یې پخپله کاوه.[۳۴]

رسول الله ﷺ ډېر وفادار، د زیات صله رحمي خاوند، مشفق، مهربان او رحیم انسان و، د هر چا څخه په ښو اخلاقو کې مخکې و، بده خبره یې نه ده کړې، پر چا یې لعنت نه دی ویلی، په بازار کې یې غالمغال نه دی جوړ کړی، په هره نېکۍ کې د کمال درجې ته رسېدلی

[۳۴] مشکات المصابیح، ج ۲، ص ۵۲۰.

وه، د بدۍ جواب يې په بدۍ نه ورکاوه، تل به يې تېرونه تېرېدو او
بخښنه کوله، داسې نه ځوريده چې تر خلک دې ترشا ورپسې ورا
وي، په خوراک، جامو او پوښاک کې به يې د خپل ځان او غلامانو تر
منځ فرق نه کاوه، اف تر يې هم نه ويل، د غلام او د خادم کار يې به
پخپله هم کول، هيڅکله يې هم غلام او خادم ته سخته خبره نه ده کړې او
نه يې ورباندې غصه سوې ده، په تقصير يې ورټلي نه دي، مسکين يې
خوښېدل، ناسته ولاړه يې ورسره درلوده، جنازې ته يې حاضرېدو او
فقيرانو ته به يې په درنه سترګه کتل.

هند بن ابي هاله وايي: رسول الله ﷺ همېشه غمګين ښکارېدو،
ډېر تدبير او فکر به يې کاوه، څه خاص آسايش او سهولت به يې نه درلودى،
بې ضرورته به يې خبرې نه کولې، زيات به خاموش وو، خبره چې به يې
شروع کړه پای ته به يې رسوله، بې تکلفه خبرې به يې کولې، مبارکه
خوله به يې پوره او بله خلاصه نه کوله، زيات مفاهيم به يې په لنډو ټکو
کې بيانول، خبره به يې مکمله او بشپړه وه، ډېر نرم او شيرين وو، نعمت
که به هر څومره کوچنی وه خو لوی به يې شمېره، د هيڅ شي خوراک يې
بد نه ګاڼه، څه چې به يې خوړل نه به يې ستايل او نه به يې بدي
بيانولې، که په حق ترېنه لاندې سو دومره به خفه سو چې هيڅوک يې
مخ ته درېدلای نه سوای او نه يې شخصي انتقام اخيست، اشاره چې به
يې کوله نو په ټول لاس سره به يې کوله، د تعجب په وخت کې به يې مخ
بلې خواته اړاوه، خندا يې يوازې تبسم وو او که به خوشحاله وو نو
سترګې مبارکې به يې کښته وې او مبارک غاښونه به يې لکه مرغلرې
داسې ځلېدل.

د خپلو اصحابو سره به يې مشورې کولې، د خلکو د حالاتو په
هکله به يې د نورو خلکو څخه پوښتنې کولې، تل به يې د اعتدال څخه





کار اخيست او اختلاف يې نه کاوه، ددې له امله چې تر ټولو څوک غفلت
ونه کړي، د هيڅ غفلت اجازه يې نه ورکوله، د هر ډول حالاتو د مقابلې
لپاره به پوره تيار و، د حق په لاره کې يې هيڅ کوتاهي نه کوله او د ټولو په
حق کې يې هيڅکله تجاوز تعدي نه کړې، تل به يې د الله ﷻ ذکر کاوه، د
الله ﷻ عبادت او لمانځه به يې تر هرڅه ډېره مينه وه، په لمانځه کې
به يې دومره اوږده قيامه (ولاړه) کوله چې مبارکې پښې به يې له ډېرې
ولاړې څخه پړسيدې، د ځان لپاره يې ځانګړی او مخصوص ځای نه و
غوره کړی، مجلس ته چې به ورتلی هلته به کښېناستی چې ځای به
خالي وا او همدا يې امر هم و، ټولو ته به يې په يوه سترګه کتل، د هر چا
د حقوقو رعايت يې کاوه، چا چې به د ضرورت په وخت کې کښيناوه
او يا به يې ودراوه، تو تر هغې پورې به ورسره ناست او يا ولاړ وه ترڅو
به د هغه ضرورت او خبره خلاصه سوه، د هغه سوال ته به يې په پوره
صبر غوږ نيوه او په ډېره ښه طريقه به يې جواب ورکاوه.

مجلس مبارک به يې د حلم، صبر، حياء، امانت او صداقت مجلس وه،
هلته به غالمغال نه وو، يو د بل سره به همکاري او ترحم کېدله، د درو
شيانو څخه به يې ځان پاک ساتلی و، د رياء څخه، د ډېر خوراک څخه، د
ډېرو خبرو څخه او د بې هدفه کار څخه، د ماشومانو سره يې زياته
مينه درلوده، د هغوی سره به يې د مينې ډک چلند کاوه، ماشومان به
يې ښکلول، په غېږ کې به يې اخيستل او خوش طبعي به يې ورسره
کوله او امر يې هم دا و، په خپل کور کې يې د خپلو مبارکو اولادونو
سره ډېره مينه درلوده او د خپلو مبارکو بي بيانو سره يې ډېر ښه او
بهترين چلند کاوه، د ټولو حقوق به يې مراعتول، له هغوی سره به يې
مشوره کول، پر حيواناتو يې ډېر زړه سوی او ترحم درلود او امر يې هم
دا و، لنډه دا چې رحمة للعلمين، سيد المرسلين او سرور کائنات

محمد مصطفی ﷺ هغه کامل انسان او د الله تعالی ﷻ کامل بنده او د عالي اخلاقو هغه ستره نمونه وه چي مثال نه لري. همدا د کمال صفات او ځانګړتیاوي وې چي خلک یې د رسول الله ﷺ سره نژدې کړې وه، د همدې عالي صفاتو له برکته یې د هر چا په زړه کي ځای او لوړ مقام درلود، د همدې غوره اخلاقو په وجه هغه داسي یو رهبر و چي زړونه ورپوري تړلي وه، د همدې کمالاتو په سبب یې خپل مغرورو خود خواه او سرکښ قوم د ځان کړ او هماغه جاهل خلک داسي سول چي دله ډله د الله تعالی ﷻ په دین مشرفېدل او اسلام ته یې غاړه ایښوول.

نو امت ته په کار دي چي د خپل ګران پیغمبر ﷺ په غوره او عالي اخلاقو پسي اقتداء وکړي او د خپل ګران او خوږ پیغمبر ﷺ سره خپله مینه او محبت په عملي ډګر کي په اثبات ورسوي. دا پورتني صفتونه چي مو یاد کړل د رسول الله ﷺ د کمالاتو او غوره اخلاقو یوه ډېره کوچنۍ نمونه ده، د رسول الله ﷺ په عظمت او حقیقت پوهېدل او د هغه بیانول یو نا ممکن کار دی، د داسي یو انسان صفت به څوک وکړای سي چي اخلاق یې قرآن کریم وي، بېشکه چي د رسول الله ﷺ د عظمت حقیقت بیانول د چا د وسه نه دي پوره.

اللهم صل علی سیدنا و علی آل سیدنا محمد کما صلیت علی سیدنا ابراهیم و علی ال سیدنا ابراهیم انک حمید مجید.

اللهم بارک علی سیدنا محمد و علی آل سیدنا محمد کما بارکت علی سیدنا ابراهیم و علی آل سیدنا ابراهیم انک حمید مجید.





# د رسول الله ﷺ مبارکه حُلیه (قلمي څېره)

کله چي رسول الله ﷺ د هجرت په سفر کي د ام معبد خزاعي د خېمې سره تېر سو، د ام معبد سره یې ملاقات وسو، نو موړي ښځي خپل مېړه ته د ده ﷺ صفات بیان کړل او داسي یې وویل: یو شخص مي ولید چي ډېر ښکلی او با وقارو، ځلېدونکی مخ او غوره اخلاق یې درلودل، نه مریض و او نه یې اندامونه غیر متناسب وه، ډېر ښایسته او برابر و، زړه راښکونکی سر او مخ یې درلودل، توري سترګي، لوړ آواز، اوږده غاړه، ګڼه ږیره، اوږده باڼو ګان، موښتي نرۍ وروځي او اوږده تور وربېښتان یې درلودل چي چپ به و ځانګړی وقار یې درلود او چي خبري به یې کولې عظمت او لوړوالی به یې د ورایه ښکارېده، د لیري څخه ډېر با هیبته او درونډ ښکارېده او د نژدې څخه ډېر خوږ او شیرین ژبانه و، خبري یې لنډې او مقبولي وې، نه یې زیاتي خبري کولې او نه یې د اندازې څخه لږ، خبري یې داسي وې لکه مرغلري، د متوسط قد خاوند و نه ډېر لوړ او نه ډېر ټیټ و، د داسي یوې څانګي په شان و لکه چي د دوو څانګو تر منځ واقع سي او د دواړو څخه وتلې او غوره وي، ملګرو یې ډېره مینه ورسره درلوده چي ده به خبري کولې، ملګري به یې چپ وه چي امر به یې وکړ نو ټول به یې تعمیل ته ولاړېدل، امر یې منل کېدی، نه بد خوی او نه ظالم و.[۳۵]

حضرت علي بن ابي طالب ؓ د رسول الله ﷺ په وصف کي وایي: نه ډېر بې اندازې جګ او نه ډېر ټیټ و، متوسطه او ښکلې ونه یې درلوده، ښه چارشانه و، وربېښتان مبارک یې نه ډېر نرم او نه ډېر تاو

[۳۵] الرحیق المختوم، ص ۷۰۵. د زاد المعاد، ج ۲، ص ۴۵ په حواله.

راتاو وه، مبارک مخ یې غوښن نه و، مخ مبارک یې ګردی او سور رنګه و، سترګې یې غټې بادامي، بانوګان یې اوږده او ګڼ وه، اوږې یې پلنې، پر مبارکه سینه یې تر نامه پورې د وریښتانو نرۍ لیکه وه، پر اوږو او څنګلو یې وریښتان وه، د لاسو او پښو ګوتې یې غوښنې وې د تګ په وخت کې به د مخ خواته مایل و تا به ویل چې د لوړې څخه کښته ځي چې چا ته به یې توجه او التفات کاوه نو په ټول بدن سره به ور ملتف کېده یوازې به یې مخ نه وراړوه، مبارکه پزه یې ښه جګه او لوړوالي ته مایله وه، مبارکه خوله یې ګشاده او غاښونه یې یو د بل پورې ډېر پیوسته او موښتې نه وه، پوندې یې نازکې او د پښو تلې یې د غوښې څخه خالي وې.(۳۶) د دواړو اوږو په منځ کې یې د کوترې دهګۍ په اندازه د نبوت مهر و، د ټولو څخه زیات مهربان او بخښونکی و د زیاتي حوصلې درلودونکی و، چا به چې ژوند ورسره وکړ، معرفت به یې ورسره حاصل سو نو ډېره مینه یې ورسره پیدا کېدله، چې چا به یې صفت کاوه ویل به یې، د ده غوندې شخص مې نه مخکې لیدلی دی او نه وروسته.

ابو طفیل ﷺ وایي: رسول الله ﷺ سپین، نمکین، ښکلی او د متوسط قامت او معتدل بدن خاوند و.(۳۷)

انس بن مالک ﷺ وایي: د رسول الله ﷺ لاسونه غټ او پلن وه، رنګ مبارک یې نه ډېر بې نمکه او نه ډېر غنم رنګه و، په داسې حال

(۳۶) دا حلیه په تفصیل سره د شمائل ترمذي او د مسند احمد د لومړي ټوک په ۱۱۲ او ۱۱۷ مخونو کې او صحیح بخاري او صحیح مسلم باب صفة النبي ﷺ کې. الرحیق المختوم، ص ۷۰۵، د ابن هشام، ج ۱، ص ۴۰۱، او ترمذي په حواله.

(۳۷) صحیح مسلم، ج ۲، ص ۲۵۸.





کې وفات سو چې په سر او ږیره مبارکه کې یې د شلو څخه زیات سپین وریښتان نه وه.(۳۸) او وایي: پر مبارکو شقیقو کې یې سپین والی و. او په بل روایت کې وایي: په مبارک سر کې یې ځای ځای سپین وریښتان وه.(۳۹)

حضرت براء ﷺ وایي: رسول الله ﷺ چارشانه و، اوږې یې پلنې وې، وریښتان یې د غوږو تر نرمیو پورې اوږده وه.(۴۰)

جابر بن سمره ﷺ یو صحابي دی، د ده څخه یو چا پوښتنه وکړه چې ایا رسول الله ﷺ د توري غوندې ځلېدی؟ هغه په جواب کې ورته وویل: نه، هغه به د لمر او سپوږمۍ په شان ځلېدی.(۴۱)

همدا صحابي روایت کوي چې یوه شپه اسمان تک شین و او په اسمان کې بیخي وریځ نه وه، سپوږمۍ راختلې وه، ما به یو وار رسول الله ﷺ ته وکتل او بیا به مې سپوږمۍ ته وکتل په دغه وخت کې رسول الله ﷺ ما ته تر سپوږمۍ ډېر ښکلی او ښایسته ایسېدی.

حضرت براء ﷺ وایي: چې ما په داسې کالیو کې چې سره خطونه یې درلودل د رسول الله ﷺ ښکلی شخص نه دی لیدلی.(۴۲)

د رسول الله ﷺ په خوله کې یو ډول خوشبویي وه.(۴۳)

د رسول الله ﷺ په مبارک مخکې به خولې د مرغلرو په ډول ځلېدلې.(۴۴)

(۳۸) صحیح مسلم، ج ۱، ص ۵۰۲.

(۳۹) صحیح بخاري او صحیح مسلم.

(۴۰) صحیح بخاري، ج ۱، ص ۵۰۲. صحیح مسلم، ج ۲، ص ۲۵۸.

(۴۱) مشکوة، ج ۲، ص ۵۱۸.

(۴۲) صحیح مسلم.

(۴۳) صحیح مسلم.

د رسول الله ﷺ د مبارک جسم پوست ډېر نرم و، انس ؓ وايي: چي د دوی رنګ به ډېر روښانه و او خوله به يې د مرغلرو غوندي ښکارېده، د دوی د بدن پوست د ورېښمين څخه زيات نرم و او جسم مبارک يې د مشکو او عنبرو څخه زيات خوش بويه و.(۴۵)

ابوهريره ؓ وايي: د رسول الله ﷺ څخه مي څوک ښکلی نه دی ليدلی، تا به ويل لمر يې په مبارک مخ کي شغلې وهي، څوک مي هم د رسول الله ﷺ څخه په تګ کي تېز نه دی ليدلی، داسي به روان و تا به ويل لکه مځکه چي يې تر پښو لاندي منډه وهي، موږ به ورپسي ستړي سوو خو هغه به نه ستړی کېدی.(۴۶)

رسول الله ﷺ چي به په قهر سو مخ به يې رنګين سو تا به ويل په مخ يې د انار دانې ماتي سوي دي.(۴۷)

جابر بن سمره ؓ وايي: د رسول الله ﷺ پوندي نرۍ وې، د تبسم څخه لوړه خندا يې نه کول، کله چي به مو ورته وکتل ګمان به مو کاوه چي سترګي يې په رنجو توري کړي دي په داسي حال کي چي په حقيقت کي په يې رانجه نه وه استعمال کړي.(۴۸)

ابن عباس ؓ وايي: د مخي د دواړو غاښونو تر منځ يې کمه فاصله وه، خبري چي به يې کولې تا به ويل د غاښونو د منځ څخه يې نور را وځي.(۴۹)

(۴۴) صحيح بخاري.
(۴۵) مشکوة.
(۴۶) مشکوة المصحابيح، ج ۲، ص ۵۱۸.
(۴۷) الترمذي، ابواب القدر، ج ۲، ص ۳۵.
(۴۸) مشکوة المصابيح، ج ۲، ص ۵۱۸.
(۴۹) صحيح البخاري، ج ۱، ص ۵۰۲.





ابو جحيفه ؓ وايي: د رسول الله ص دواړه مبارک لاسونه مي ونيول په خپل مخ مي کښېښول، ومي ليدل چي د واوري څخه يخ او د مشکو څخه ډېر خوشبويه دي.(۵۰)

انس ؓ وايي: خولې يې لکه مرغلري داسي وې.

ام سليم ؓ وايي: د رسول الله ﷺ د مطهر پاک بدن ښکلی بوی يا خولې د غوره عطرو څخه هم غوره و.(۵۱)

جابر ؓ وايي: رسول الله ﷺ به چي په کومه لار ولاړی، که به بل څوک پر دغه لار ولاړی نو د رسول الله ﷺ د مبارک بوی څخه به په دې پوهېدی چي رسول الله ﷺ پر دغه لار تللی دی.(۵۲)

## پر امت باندي د نبي کريم ﷺ حقونه

سيد المرسلين محمد ﷺ پر ټول بشريت او بيا په ځانګړي ډول پر اسلامي امت باندي په مختلفو حيثيتونو بې شمېره حقونه لري، د الله ﷻ د هدايت د راوړونکي په حيث، د خورا مهربان او مشفق معلم او ښوونکي په حيث، د يو زړه سواند معنوي پلار په حيث، د يو مدبر حاکم په حيث، د يو عادل قاضي په حيث، د يو رحيم او مهربان ناجي په حيث، د الله تعالی ﷻ په بندګانو کي د يو کامله انسان، د ټولو عالميانو لپاره د رحمت په حيث او د الله تعالی ﷻ د يو ستر او فضل په حيث او داسي نور... چي د ټولو حقوقو ذکر کول يې زما عاجز تر وس

(۵۰) صحيح مسلم، ج ۲، ص ۲۵۷.
(۵۱) صحيح مسلم، ج ۲، ص ۵۰۲.
(۵۲) صحيح مسلم، ج ۲، ص ۵۰۲.

اوٌ توان لوړ او په دې لنډه لیکنه کې نه غواړو چې او یو څو یې لاندې
نمونې په توګه ذکر کوو.

## ۱. اطاعت:

پر حضرت رسول الله ﷺ باندې د الله تعالی ﷻ د وروستي او اخري
پیغمبر د ایمان د راوړلو له وجوب څخه وروسته دا واجب ده او رسول
الله ﷺ دا حق لري چې په کامله توګه یې اطاعت وکړل سي ځکه چې الله
تعالی ﷻ د دې لپاره رالیږلی دی چې اطاعت یې وکړل سي او دغه حق
یې پر هر مسلمان نارینه وي او که ښځینه فرض دی ځکه الله تعالی ﷻ
د رسول الله ﷺ په اطاعت کولو امر کړی دی او فرمایلي یې دي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ... (سورت النساء،
سورت ۴، آیت ۵۹)

ترجمه:

اې مؤمنانو! د الله تعالی ﷻ اطاعت وکړئ او د رسول الله ﷺ
اطاعت وکړئ.

په دې مبارک آیت کې الله تعالی ﷻ د رسول الله ﷺ اطاعت خپل
ګڼلی دی او فرمایلي یې دي:

مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ... (سورت النساء، سورت ۴، آیت
۸۰)

ترجمه:

څوک چې د رسول الله ﷺ تابعداري کوي نو هغه د الله تعالی ﷻ
تابعداري وکړه.





دا ځکه چې امام الانبیاء حضرت محمد ﷺ هیڅ یو حکم له خپله
ځانه څخه نه کوي بلکه هره فیصله یې الهي وحي او د الله تعالی ﷻ د
نازل کړي قانون (قرآن کریم) مطابق وي لکه چې الله تعالی ﷻ
فرمایي:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝ (سورت النجم،
سورت ۵۳، آیت ۳-۴)

ترجمه:

او خبرې نه کوي محمد ﷺ له خپله ځانه، نه دی دغه قرآن مګر وحي
ده چې ورته لیږل سوې ده.

نو په دې اساس پر هر مسلمان فرض ده چې په هر کار او هره خبره
کې یوازې او یوازې الله ﷻ او د هغه د خوږ رسول ﷺ اطاعت وکړي، پر
مؤمنانو باندې فرض دی چې د ژوند په ټولو اړخونو کې هغه قانون
پلی کړي چې رسول الله ﷺ امر په کړی دی او د ده ﷺ د قانون په مقابل
کې هر قانون جاهلي دی او هیڅ مسلمان ته روا نه ده چې د رسول الله ﷺ
قانون پرېږدي او په مقابل کې یې بل قانون عمل وکړي، په سیاست،
اقتصاد، عباداتو، معاملاتو، ټولنیز ژوند او فردي ژوند او په ټوله
ژوند کې باید یو مسلمان یوازې په هغه قانون او کړنلاره عمل وکړي
کوم چې حضرت محمد ﷺ د الله تعالی ﷻ له لوري راوړی دی او جنت
ته ننوتل هم د نبي کریم ﷺ په تابعداري پورې تړلي دي لکه رسول الله
ﷺ فرمایلي دي:

کل امتي یدخلون الجنة الا من ابی قالو: یا رسول الله: و من یابی؟
قال: من اطاعني دخل الجنة و من عصاني فقد ابی.[۵۲]

---

[۵۲] صحیح البخاري

ترجمه:

زما ټول امتیان به جنت ته داخل سي مګر هغه څوک چي انکار وکړي، صحابه و عرض وکړ، ای رسول الله: څوک دی چي انکار به وکړي؟ هغه وفرمایل: څوک چي زما اطاعت کوي هغه به جنت ته داخلیږي او څوک چي زما نافرماني کوي نو هغه انکار وکړ.

## ۲. متابعت:

د خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ پر خپل امت باندي دوهم شرعي حق د ده ﷺ متابعت دی، امام قرطبي ؒ ویلي دي:

د لغت په لحاظ اطاعت په قول کي دی او متابعت په فعل او عمل کي دی او په شرعي اصطلاح کي د یو اطلاق پر بل باندي کېدای سي او په لغت کي یو د بل سره توپیر لري. د نبي کریم ﷺ متابعت په عباداتو، معاملاتو او اعمالو کي فرض دی، تر دې اندازې چي الله تعالی ﷻ خپل محبت د رسول الله ﷺ په متابعت پوري مشروط کړی دی او فرمایلي یې دي:

قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِى يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾ (سورت آل عمران، سورت ۳، آیت ۳۱)

ترجمه:

وو ایه اې محمده! دوی ته که چیري یاست تاسي چي محبت کوئ د الله ﷻ سره نو متابعت وکړئ زما چي محبت وکړي الله ﷻ ستاسي سره (د ثواب په ورکولو) او مغفرت به وکړي تاسي ته د ګناهونو ستاسي او الله ﷻ مغفرت کوونکی دی د خطیاتو، ډېر رحم والا دی.





## ۳. محبت:

د حضرت خاتم النبیین محمد ﷺ پر خپلو امتیانو باندي دریم حق د هغه ﷺ سره محبت کول دي، داسي مینه او محبت چي له هر چا څخه زیاته وي یعني د مور، پلار، اولاد، ښځي، خپل مال، خپل ځان او د ټوله نړۍ او هر شي څخه زیات وي او د نبي کریم ﷺ سره دغه ډول محبت کول د ایمان د تکمیل او صحت لپاره شرط دی یعني څوک چي د الله ﷻ څخه را لاندي د رسول الله ﷺ سره داسي مینه ونه لري د هغه ایمان کامل نه دی لکه رسول الله ﷺ چي فرمایلي دي.

عن انس بن مالک ؓ قال: قال رسول الله ﷺ: لا یومن احدکم حتی اکون احب الیه من ولده و والده والناس اجمعین.[54]

ترجمه:

د حضرت انس ؓ څخه روایت دی چي ویلي یې دي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هیڅ یو ستاسي څخه تر هغه پوري مؤمن کېدای نه سي تر څو چي ده ته زه د ده تر اولاد، پلار او نورو ټولو خلکو څخه زیات محبوب نه سم.

همدارنګه په یو بل حدیث کي چي هغه هم د حضرت انس بن مالک ؓ روایت کړی دی فرمایي:

لایومن عبد حتی اکون احب الیه من اهله و ماله والناس اجمعین.[55]

ترجمه:

یعني یو بنده تر هغه پوري مؤمن کېدلای نه سي تر څو چي زه ده ته د ده تر اهل، د ده تر مال او ټولو خلکو څخه زیات محبوب نه سم.

[54] صحیح مسلم، ج ۱، ص ۴۹، کتاب الایمان، باب وجوب محبة الرسول ﷺ

[55] صحیح مسلم، ج ۱، ص ۴۹، کتاب الایمان، باب وجوب محبة الرسول ﷺ

امام نووي رحمه الله متوفی ٦٧٦ هـ، کي د دغه احاديثو په شرح کي فرمايلي دي: قال ابن بطال والقاضی عیاض و غیرهما، رحمة الله علیهم: المحبة ثلاثة اقسام:

١. محبة اجلال و اعظام کمحبة الوالد.

٢. و محبة شفقة و رحمة کمحبة الوالد.

٣. و محبة مشاکلة و استحسان کمحبة سائر الناس فجمع محمد ص اصناف المحبة فی محبة.(٥٦)

ترجمه:

ابن بطال رحمه الله، قاضي عياض رحمه الله او نورو ويلي دي: چي د انسانانو خپل منځی مینه او محبت پر درې ډوله ده: يو ډول يې د مشرتابه او لوی والي په وجه ده لکه اولاد يې چي له پلار او شاګرد يې له استاد سره کوي، دوهم ډول د ميني، شفقت او زړه سوي په وجه ده لکه پلار يې چي له اولاد او لويان يې له کوچنيانو سره کوي او دريم ډول د محبت له خپلو همزولو او هم فکرو تر منځ مينه او محبت کول دي. نبي کريم ﷺ په خپل محبت کي د محبت دغه درې واړه ډولونه سره جمع کړي دي.

## د نبي کريم ﷺ د محبت علامې

د رسول الله ﷺ سره د ميني او محبت کولو ډيري علامې دي چي ځيني يې دا دي:

١. د رسول الله ﷺ مکمله پيروي، متابعت او اطاعت کول لکه مخکي چي وويل سوه.

(٥٦) صحيح مسلم





٢. د رسول الله ﷺ پر سنتو باندي پوره عمل کول او د سنتو سره يې مينه کول.

٣. د رسول الله ﷺ ډېر ياد ول او پر هغه ﷺ درود ويل ځکه چي هر دوست د خپل محبوب د ملاقات سره ډېره مينه او شوق لري.

٤. د رسول الله ﷺ د يادولو په وخت کي د هغه ﷺ تعظيم او احترام کول.(٥٧)

٥. له هغه چا سره بغض او دښمني کول چي د رسول الله ﷺ سره دښمني کوي.

٦. له هغه چا څخه جلا کېدل چي د رسول الله ﷺ د سنتو خلاف عمل کوي او د هغه په راوړي دين کي بدعتونه پيدا کوي چي هغه منافقين، فاسقين او مبتدعين دي.

٧. له هغه چا سره محبت کول چي د رسول الله ﷺ سره محبت کوي لکه د رسول الله ﷺ خاندان، د هغه بي بياني او د هغه د مهاجرو او انصارو صحابه وو سره مينه.

٨. له هغه چا سره دښمني کول چي د پيغمبر ﷺ د خاندان (آل بيت) او صحابه وو سره دښمني کوي او يا ورته ښکنځل کوي.

٩. د نبي کريم ﷺ د ښايسته اخلاقو پسي اقتدا کول ځکه چي رسول الله ﷺ په ټولو مخلوقاتو کي د ډيرو ښايستو اخلاقو خاوند و.

(٥٧) ابن اسحاق رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ صحابه وو د هغه له وفات څخه وروسته چي کله به يې د نبي کريم ﷺ يادونه کول نو دوی به عاجزي کول او د بدن وربښتان به يې شخ ودرېدل او ژړل به يې.

۱۰. د رسول الله ﷺ د مبارکو احادیثو احترام او درناوی کول او د احادیثو د بیانولو، اورېدلو او درس په وخت کي چپ کښېنستل او غوږ نیول.

۱۱. د رسول الله ﷺ دین ته دعوت کول او خلک ورته رابلل.

۱۲. د رسول الله ﷺ د دین نصرت او حمایت کول او د اسلام په لار کي په ځان، مال، توره او قلم سره جهاد کول.[۵۸]

## پاملرنه

مسلمانان باید دا خبره په یاد ولري چي د رسول الله ﷺ په محبت کي د پر افراط او د شرعي حدودو څخه تجاوز ونه کړي. د نبي کریم ﷺ سره محبت کول دا معنی نه لري چي د الله تعالی ﷻ صفات ورته ثابت کړل سي او د الله تعالی ﷻ په ځینو صفاتو کي شریک وګرځول سي.

رسول الله ﷺ فرمائي: لاتطرؤني کما تطرات النصار المسیح ابن مریم فانما انا عبد فقولوا عبدالله و رسوله.[۵۹]

ترجمه:

تاسي زما په مدحه او ستاینه کي دومره مبالغه مه کوئ لکه څومره چي نصارا د حضرت عیسی ابن مریم ؑ په مدحه او ستاینه کي یې کوي، بېشکه زه د الله تعالی ﷻ بنده یم نو ما ته د الله ﷻ بنده او د الله ﷻ رسول او استازی وایاست.

[۵۸] شرح العلامه زرقاني على مواهب اللدينه، ج ۹، ص ۷۷. د دعوت اصول، ص ۴۲-۴۷. هذا الحبیب یا محبیب، ص ۴۴۱، د ابوبکر الجزائري لیکنه.

[۵۹] صحیح البخاري





نو مسلمانانو ته لازمه ده چي د الله تعالی ﷻ عظمت، لویوالی، صفات او د الله تعالی ﷻ حق او توحید وپېژني او د هغه څخه را لاندي د رسول الله ﷺ مقام وپېژني او په شرعي چوکاټ کي د رسول الله ﷺ سره مینه او محبت وکړي. هغه حاضر او ناظر ګڼل، هغه عالم غیب ګڼل او داسي نور صفتونه ورته ثابتول غلطه عقیده ده. د نبي کریم ﷺ سره محبت دا معنی چي د ده شرعي احکام به د دغو ټولو پر محبت مقدم او مخکي ګڼل واجب دي که څه هم مور، پلار، اولاد، دوستان او ټول خلک خپه سي پروا نه لري او په هر صورت کي په کتاب الله او د رسول الله ﷺ پر سنتو عمل وکړئ. او داسي نه وي چي یو موضوع ورته پېښه سي چي یو طرف ته مور، پلار، اولاد او د خلکو رسم او رواج وي او بل طرف ته شریعت او د رسول الله ﷺ سنت وي او دی د سنتو څخه تېر سي او په غلط رسم رواج عمل وکړي.

خدای یې مه ګڼه بېشکه چي بنده دی
نور یې کل واړه صفات دي په رشتیا
(عبدالرحمن بابا رحمه الله)

### ۴. د سنت څخه دفاع کول:

د رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي څلورم حق دا ده د سنتو څخه دفاع کول دي او د نبوي سنتو ژوندي ساتل دي، برابره خبره ده که فعلي سنت وي او که قولي سنت وي چي حدیث ورته ویل کیږي په خپله به هم په سنتو عمل کوي او نورو ته به هم پر نبوي سنتو د عمل کولو بلنه ورکوي ځکه هغه څوک چي په اوسني عصر کي پر نبوي سنتو عمل کوي د هغه لپاره نبي کریم ﷺ د سلو شهیدانو د ثواب ګټلو زیری ورکړی دی لکه چي د بیهقي په مروی حدیث کي یې فرمایلي دي:

و عن ابي هريره قال: قال رسول الله ﷺ: من تمسک بسنتي عند فساد امتی فله اجر مائة شهيد.[٦٠]

ترجمه:

د ابوهريره ﷛ څخه روايت دی چي ويلي يې دي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چي زما د امت د فساد په وخت کي زما پر سنتو ټينګي منګولي ولګولې نو د ده لپاره د سلو شهيدانو اجر دی.

د تمسک معنی دا ده چي هم خپله عمل په وکړي او بل څوک هم پرې نه ږدي چي د نبوي سنتو پر خلاف په امت کي حديث دښمنانه او مفسدانه فعاليت وکړي لکه معتزله، روافض، پروېزيان، قاديانيان، قذافی او مستشرقين ځکه دغه کسان د نبوي احاديثو منکرين دي او همدا رنګه د بدعتيانو مخنيوی هم په کلکه سره په کار دی ځکه هر بدعت چي را منځ ته کيږي د يوه سنت ځای نيسي نو محوه کول يې په کار دي.

## ۵. وسيله غوښتل:

د رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي پنځم حق دا دی چي د وسيله مقام د دعا غوښتنه به ورته کوي او وسيله په جنت کي مخصوص او غوره مقام دی چي الله تعالی ﷻ د يوه کس لپاره خاص کړی دی لکه چي په حديث شريف کي راغلي دي:

د عبدالله بن عمروبن العاص ﷠ څخه روايت دی چي ويلي يې دي: چي ده د نبي کريم ﷺ څخه واورېدل چي ويې فرمايل: کله چي تاسي د اذان کوونکي اذان واورېدی نو تاسي هم هماغه کليمات

[٦٠] مشکوة المصابيح، ج ۱، ص ۲۷، باب الاعتصام بالکتاب والسنة





ووایاست چي مؤذن يې ووايي بيا پر ما باندي درود ووایاست ځکه چي څوک پر ما باندي يو ځل درود ووايي الله تعالی ﷻ به پر هغه باندي لس ځله درود ووايي، بيا ماته د الله تعالی ﷻ څخه د وسيلې راکولو دعا وکړئ په تحقيق سره وسيله په جنت کي مرتبه ده چي د الله تعالی ﷻ د خاصو بندګانو څخه کوم بنده ته ورکول کيږي نه هر چا ته او زه هيله من يم چي زه هماغه بنده سم نو چا چي زما لپاره د وسيلې غوښتنه وکړه او دعا وکړه نو زما شفاعت د هغه لپاره واجب او ثابت سو.[٦١]

اللهم رب هذه الدعوة التامة والصلاة القائمة، ات محمد ن الوسيلة والفضيلة، وابعثه مقاماً محموداً الذي وعدته انک لا تخلف الميعاد.[٦٢]

## ٦. دورود ويل:

د رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي شپږم حق درود ويل دي او الله تعالی ﷻ ټولو مؤمنانو نارينه او ښځو ته حکم کړی دی چي پر نبي کريم ﷺ باندي درود ووايي لکه چي فرمايلي يې دي:

إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴿٥٦﴾ (سورت الاحزاب، سورت ۳۳، آيت ۵٦)

[٦١] صحيح مسلم، ج ۱، ص ، کتاب الصلاة، باب استجاب القول مثل قول المؤذن لم سمه ثم صلی علی النبي ثم يساله له الوسيلة

[٦٢] سنن ابن ماجه، ج ۱، ص ۵۲، کتاب الصلوة، باب مايقال اذا اذن المؤذن

ترجمه:

بېشکه الله ج او ملایکي د الله ﷻ درود وايي (رحمت لیږي) پر نبي ﷺ باندي، ای هغو کسانو چي ایمان یې راوړی دی ای مؤمنانو! درود ووایاست پر هغه باندي او سلام پر ووایاست په سلام ویلو سره.

د دغه مبارک آیت په تفسیر کي مفسرینو او امام نوی ؒ ویلي دي چي په ټول عمر کي یو ځل پر رسول الله ﷺ باندي درود فرض دی او هر وخت ویل د ځینو په نزد واجب دی او د جمهورو په نزد سنت دی او دا پر امت باندي د نبي کریم ﷺ حق دی او هغه څوک چي درود نه پر وايي هغه ته نبي کریم ﷺ ښرا کړې ده. په حدیث شریف کي راځي:

عن ابي هريرة ؓ عنه قال: قال رسول الله ﷺ: رغم انف رجل ذكرت عنده فلم يصلى على.[63]

ترجمه:

د ابوهریره ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: پزه دي د هغه چا خړه سي (هلاک دي سي) چي زه د ده په وړاندي یاد کړل سم او پر ما باندي درود نه وايي.

په بل حدیث کي یې بد بخت ورته ویلي دي:

من ذكرت عنده فلم يصل على فقد شقى.[64]

ترجمه:

د چا په وړاندي چي زه یاد کړل سم او درود ونه وايي پر ما باندي نو په تحقیق سره دا سي شخص بدبخت سو.

په بل حدیث کي یې بخیل ورته ویلي دي:

(۶۳) الاذکار للنوی، ج ۱، ص ۱۰۲

(۶۴) الاذکار للنوی، ج ۱، ص ۱۰۲





البخيل من ذكرت عنده فلم يصل على.[65]

ترجمه:

هغه څوک بخیل دی چي زه د ده په وړاندي یاد کړل سم او پر ما درود ونه وايي.

## ۷. د درود ویلو فضیلت:

د درود ویلو د فضیلت په هکله خورا ډېر حدیثونه موجود دي خو دلته دوه حدیثونه د بیلګي په توګه رانقلوو.

۱. عن ابن مسعود ؓ ان رسول الله ﷺ قال: اولى الناس بى يوم القيامة اكثرهم على صلاة.[66]

ترجمه:

د حضرت عبدالله بن مسعود ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه به د قیامت په ورځ لومړی د هغه چا سره ملاقي (مخامخ) سم او شفاعت به یې کوم چي په دنیا کي یې پر ما باندي ډېر درود ویلی وي.

۲. عن انس بن مالک ؓ ان رسول الله ﷺ قال: من صلى على صلاة واحدة صلى الله عليه عشر صلوات وحطت عنه عشر خطيئات و رفعت له عشر درجات.[67]

(۶۵) رواه الترمذي، حديث حسن صحيح.

(۶۶) رواه الترمذي

(۶۷) سنن النسائي، ج ۲، ص ، باب الفضل في الصلاة على النبي ﷺ

خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ د مؤمنانو د خپلو ځانونو څخه هم پر دوی باندي زیات مهربان دی ځکه چي دوی پر داسي وي چي د شیطان په لمسه د ګناهونو په کولو سره ځان په هلاکت کي اچوي او نبي کریم ﷺ د ممانعت په حکم سره نجات ورکوي چي له دې کبله د ده ﷺ احکام او هدایات قبلول پر هر مسلمان فرض دي او د دوی د میندو او پلرونو د اوامرو څخه د نبي کریم ﷺ اوامر مقدم او وړاندي دي ځکه چي کله ناکله د مور او پلار امر د اولاد د تباهۍ باعث ګرځي بیا خاص هغه مور او پلار چي بې دینه، کمونیست او سیکولر وي خو د نبي کریم ﷺ هر امر او نهي د نجات سبب وي ځکه چي په قرآن کریم کي یې یو صفت (رحمت للعلمین) هم دی.

## ۸. د صحابه کرامو احترام:

پر اسلامي امت د رسول الله ﷺ اتم حق د هغه د ټولو اصحاب کرام ﷺ عظمت او احترام دی او پر دې خبره باندي ایمان درلودل دي چي له انبیاء وو څخه وروسته د خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ اصحاب له ټولو څخه افضل دي. الله تعالی ﷻ د هغوی ستاینه په قرآن کریم کي څو ځایه کړې او فرمایلي یې دي:

وَٱلسَّـٰبِقُونَ ٱلْأَوَّلُونَ مِنَ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ وَٱلْأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحْسَـٰنٍ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى تَحْتَهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾ (سورت التوبه، سورت ۹، آیت ۱۰۰)





ترجمه:

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چا چي پر ما یو ځل درود ووایه، الله تعالی ﷻ به پر هغه باندي لس واره درود ووایي او لس ګناهونه به یې لیري کړي او لس درجې به یې ورلوړي کړي.

درود شریف باید هر وخت وویل سي په خاصه توګه د جمعې په ورځ باید ډېر وویل سي او د درود افضله درودونه هغه دي کوم چي یې موږ په لمانځه کي وایو.

## ۷. د امهات المؤمنین احترام:

پر امت باندي د رسول الله ﷺ اووم حق د هغه د پاکو بي بیانو درناوی او حترام دی او څوک چي ځان مسلمان او د محمد ﷺ امتي ګڼي او د شفاعت هیله لري نارینه وي او که ښځینه د نبي کریم ﷺ د پاکو بي بیانو احترام پر فرض دی ځکه چي د نبي کریم ﷺ پاکي بي بیاني د مسلمانانو میندي دي او دغه حکم الله ﷻ کړی او فرمایي:

ٱلنَّبِىُّ أَوْلَىٰ بِٱلْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ ۖ وَأَزْوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَـٰتُهُمْ ۗ... (سورت الاحزاب، سورت ۳۳، آیت ۶)

ترجمه:

محمد ﷺ د الله ﷻ نبي ډېر ډېر (لایق) دی د مؤمنانو سره د نفسونو د دوی (د احکامو په انجام) او ښځي د دغه (نبی الله) میندي (مورګاني) د دوی دي تعظیماً او تحریماً.[٢٨]

---

[٢٨] کابلي تفسیر، ج ۲، ص ۲۵۵-۲۵۶، سعودي چاپ.



Scanned with CamScanner

ترجمه:

او هغه وړاندي لومړني (ایمان لرونکي) د مهاجرینو او انصارو څخه او نور هغه کسان چي متابعت یې کړی دی د دوی (د سابقانو) په احسان (نېکی) سره، راضي سوی دی الله ﷻ له دوی څخه (په قبول د طاعت سره) او راضي سوي دي دوی له الله ﷻ څخه (په اعطا د نعمت) او تیار کړي دي الله ﷻ دوی ته جنتونه چي بهیږي لاندي (د ونو او ماڼیو) د دوی (څلور ډوله) ویالې چي تل به وي دوی په هغو کي همېشه دغه (رضا او جنت) بری دی ډېر لوی.

په هغه حدیث کي چي حضرت عمر ؓ روایت کړی نبي کریم ﷺ فرمایي:

اکرمو اصحابي فانهم خیارکم ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم... (۶۹)

ترجمه:

زما د اصحابانو عزت کوئ ځکه چي هغوی ستاسو مسلمانانو افضل ترین خلک دي، بیا وروسته پېړۍ (تابعین) غوره خلک دي بیا په هغوی پسي غوره خلک دي (تبع تابعین).

په بل حدیث کي راغلي دي:

عن عبدالله بن مغفل قال: قال رسول الله ﷺ: الله الله فی اصحابی، لا تتخذوهم غرضاً، فمن احبهم فبحبی احبهم، و من ابغضهم فببغضی ابغضهم، و من اذاهم فقد اذانی، و من اذانی فقد اذی الله و من اذالله یوشک ان یاخذه. ۷۰

---

(۶۹) مشکوة المصابیح، ج ۳، ص ۲۳۵-۲۳۶، فضایل الصحابه د نسائي په حواله

(۷۰) جامع الترمذی





ترجمه:

د عبدالله بن مغفل ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د الله تعالی ﷻ څخه وېرېږئ، د الله تعالی ﷻ څخه وېرېږئ، زما د اصحابو په باره کي زما څخه وروسته هغوی د خپل سپکاوي هدف مه ګرځوئ، د هغوی په عزت او اکرام کي تنقیص (کمی) مه کوئ، څوک چي زما د اصحابو سره محبت کوي نو زما د محبت په وجه محبت ورسره کوئ او څوک چي دښمني او کینه ورسره کوي نو زما سره د دښمنۍ او کینې لرلو په سبب د هغوی سره دښمني کوئ او چا چي هغوی ته زیان او تکلیف ورساوه نو په تحقیق سره یې ما ته زیان ورساوه او چا چي ما ته ضرر ورساوه نو په تحقیق سره یې الله تعالی ﷻ ته ضرر ورساوه او چا چي الله تعالی ﷻ ته زیان ورساوه نو ژر دی چي په دنیا او عقبی کي به په عذاب اخته کړل سي.

مطلب دا چي خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ قاطع حکم کړی دی چي څوک که د ده سره محبت کوي نو خامخا به د ده د ټولو صحابه وو سره محبت کوي او د هغوی په شان کي به ګستاخي نه کوي، دغه راز نبي کریم ﷺ اصحاب کرامو ته د ښکنځل کولو څخه سخت ممانعت کړی دی.

عن ابی سعید الخدری قال: قال رسول الله ﷺ: لاتسبو اصحابی، فوالذی نفسی بیده لو ان احدکم انفق مثل احد ذهباً ما ادرک مد احدهم و لا نصیفه. (۷۱)

---

(۷۱) الترمذي، ابواب مناقب

ترجمه:

د حضرت ابوسعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زما اصحابو ته بکنځل مه کوئ ځکه زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د ده په لاس کې دی، چې که هریو ستاسې د احد د غره په اندازه سره زر ولګوئ (خیرات کړئ) نو زما د اصحابانو د فضیلت مقام ته به نه رسیږئ او نه د هغه فضیلت د مقام نیمایي ته رسیدلای شئ.

نو په دې اساس د صحابه وو احترام کول واجب دی صحابه ټول جنتیان دي د هغوی ګناهونه بخښل سوي دي.

د هغوی په هکله دا عقیده درلودل فرض ده چې هغوی د انبیاء علیهم السلام څخه وروسته افضل ترین د خلکو دي، بیا دې خبره ایمان لرل لازم دي چې د هغوی تر منځ هغه مراتب حق دي چې نبي کریم ﷺ بیان کړي او ټاکلي دي او هغه دا سې چې د اصحابانو افضل مهاجرین دي او بیا انصار دي او د دوی ټول (مهاجرین او انصار) د هدایت ستوري او د اسلامي امت امامان او لارښوونکي دي او د مهاجرینو افضل څلور واړه خلفاء راشدین دي او په هغوی کې له ټولو څخه افضل حضرت ابوبکر صدیق دی یا په بل عبارت د انبیاء علیهم السلام څخه زیاتدي په ټولو انسانانو کې افضل ترین شخص حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی یا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دی یا حضرت عثمان ذوالنورین رضي الله عنه دی یا حضرت علي رضي الله عنه دی یا نور عشره مبشره دي او یا نور صحابه دي نو د صحابه وو توهین کول او هغوی ته بکنځل کول د مسلمان کار نه دی او د صحابه وو په منځ کې چې څه تیر سوي

تفسیر معارف القرآن ج ۹، ص ۱۸۲، د سورت الفتح تفسیر.





دي د هغو په هکله تبصره او قضاوت کول د اسلامي امت ټولو علما وو په یوه خوله منع کړي دي او په دې هکله سکوت یې کړی دی.

## ۹. د اهل بیت احترام:

په امت باندې د رسول الله ﷺ تر ټولو مهم حق د هغه د اهل بیت احترام دی او په هر مسلمان فرض دی چې د اهل بیت احترام وکړي د هغوی سره محبت وکړي. الله تعالی ﷻ فرمایي:

إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا ۝ (سورت الاحزاب، سورت ۳۳، آیت ۳۳)

ترجمه:

بېشکه همدا خبره ده چې اراده لري الله ﷻ دې چې لیرې کړي له تاسې ګناه ای اهل البیت (کورنۍ د محمد رسول الله ﷺ) او چې پاک کړي تاسې (له ګناه) په پاکوالي.

له پورتنۍ آیت څخه د نبي کریم ﷺ د آل بیت فضیلت ثابت دی، په پورتنۍ مبارک آیت کې د آل بیت څخه مراد امهات المؤمنین (د نبي کریم ﷺ پاکې بي بیانې) حضرت علي رضي الله عنه حضرت فاطمه رضي الله عنها حضرت حسن رضي الله عنه او حضرت حسین رضي الله عنه شامل دي او د آل بیت د

د نورو تفصیل لپاره وګورئ خیر د عقیده د ۲۰۴ صفحې څخه تر ۲۱۴ صفحې پورې او وګورئ اختلاف امت او صراط المستقیم ج ۱، ص

صفوة البیان في ایضاح القرآن بالقرآن ج ۲، ص ۳۵۳، چاپ قاهره مصر.
عمدة التفسیر ج ۱۰، ص ۲۸

فضیلت په هکله نبوي احادیث هم موجود دي چي یوه حدیث ته د بېلګي په توګه اشاره کوو.

امام ترمذي رحمه الله د جابر بن عبدالله ﷺ څخه روایت را نقل کړی دی چي هغه وایي: ما رسول الله ﷺ د عرفې په ورځ پر خپله اوښه سپور و، ولیدی و خلګو ته یې خطبه واوروله او ځیني وا مي ورېدل چي ویې فرمایل:

یا ایها الناس انی ترکت فیکم ما من ان اخذتم به لن تضلوا کتاب الله و عترتی اهل بیتی.[75] و فی روایت زید بن ارقم انی تارک فیکم ما ان تمسکتم... الی آخر حدیث.

ترجمه:

ای خلکو زه په تاسي کي داسي څه پرېږدم که چیري څوک هغه واخلي نو هیڅکله به ګمراه نه سي چي هغه عبارت دی د کتاب الله (قرآن کریم) او زما د اهل بیت او اولاد څخه.

د حضرت زید بن ارقم څخه په روایت کي راغلي دي: چي زه په تاسي کي داسي څه پرېږدم که چیري تاسو په هغه منګولي ټینګي کړې نو زما وروسته به ګمراه نه سئ چي هغه عبارت دی د کتاب الله څخه چي د مځکي څخه تر آسمان پوري اوږده او کلکه رسۍ ده او دوهم زما اولاده او اهل بیت دي.

امام احمد رحمه الله فرمایي: څوک چي د اهل بیت سره بغض کوي هغه منافق دی.[76]

[75] جامع الترمذی، ج ۲، ص ۲۹۹. ابواب المناقب، مناقب اهل بیت، چاپ مکتبه رحمانیه، لاهور.

[76] وګوری شرح زرقانی علی مواهیب اللدینه، ج ۹، ص ۲۵۲، چاپ بیروت.





نو د رسول الله ﷺ د اهل بیت درناوی او احترام کول او د هغوی سره مینه کول د ایمان تقاضا ده او د ایمان نښه او د رسول الله ﷺ سره رښتیني مینې علامه ده، خو په دې خبره هم باید مسلمانان وپوهېږي چي د رسول الله ﷺ د اهل بیتو په احترام او درناوي او مینه کي باید د شرعي حد څخه تجاوز ونه سي په دې هکله باید د اعتدال لاره غوره سي او د افراط او تفریط څخه ډډه وسي لکه ځیني شیعه ډلي چي د اهل بیتو په هکله د خورا افراط څخه کار اخلي او هغوی ته د خدایي اوصاف ثابتوي او هغوی پیغمبرانو غوندي معصوم ګڼي چي دا کار د شرعي حد څخه تجاوز دی او په دې کار سره الله ﷻ او د هغه پیغمبر ﷺ ناراضه کېږي، د اهل بیتو احترام او محبت لازم دی خو پخپل حد او چوکاټ کي.

## رسول الله ﷺ ته د سپکاوي حکم

که چا رسول الله ﷺ ته نعوذ بالله، (موږ دي الله ﷻ ځیني وساتي) سپکاوی وکړ او پوچه وینا یې په قصد سره وکړه نو دا شخص د علما وو په اتفاق کافر دی، مرتد دی او زندیق دی، ښځه پر طلاقه ده داسي کس ته توبه او د نکاح تجدید ضروري دی، اسلامي حکومت باید داسي شخص مړ او قتل کړي[77]، برابره خبره ده که کافر وي او که مسلمان.

[77] نظام فتاوی، ج ۱، ص ۵۳، او د دې مسئلې د نور بنه تفصیل لپاره وګوری: شرعي حدود کتاب، ص ۲۹۲ څخه بیا تر ۳۰۲ صفحې پوري. د الصارم المسلول علی شاتم الرسول، ص ۴. نیل الاوطار، ج ۷، ص ۲۰۰. المحلی بالاثار، ←

# نبوي معجزات

د پخوانیو رسولانو په شان الله تعالی ﷻ حضرت محمد ﷺ ته د دهٔ د رسالت د تصدیق په خاطر دواړه ډوله معجزې حسي او معنوي عطا کړي وې چې ځیني علماوو د خاتم النبیین ﷺ درې سوه حسي معجزې ذکر کړي دي چې ګران لوستونکي کولای سي هلته یې وګوري[۷۸] خو موږ دلته د اختصار په خاطر دوو معجزو ته په لنډه توګه اشاره کوو.

## ۱. قرآن کریم معنوي معجزه:

سید المرسلین حضرت محمد ﷺ ته معنوي او عقلي معجزه د الله تعالی ﷻ له جانبه د قرآن کریم په بڼه ورکول سوې ده، داسي معجزه چې پر ټول عالم یې په عقیده او عمل کي قبلول فرض دي، داسي معجزه چې د زړونو او جسمونو او روحونو لپاره درمل ده، داسي معجزه چې د قیامت تر ورځي پوري تلپاتي ده، داسي معجزه چې د جن او انس هر یو فصیح او بلیغ قادر الکلام د قرآن کریم د مقابلې څخه بې وسه دي او تر قیامت پوري به ورڅخه عاجز وي که څه هم ټول یو د بل مدد او مرسته وکړي لکه چې الله تعالی ﷻ د چلنج په توګه فرمایي:

→ ج ۱۲، ص ۴۳۴. فتاوی سبکی، ج ۲، ص ۵۷۳-۵۹۴ او السیف المسلول للسبکی، ص ۴-۱۱ په حواله

[۷۸] لوستونکي کولای سي د معجزو د تفصیلاتو لپاره لاندي کتابونه وګوري: عربي: شرح العلامه زرقانی علی مواهیب اللدینه، هذا الحبیب یا محیب، الشفاء، جوامع السیرت او نور پښتو، سیرت النبي، ۳ توک، د معجزاتو برخه. کابل چاپ





قُل لَّئِنِ ٱجْتَمَعَتِ ٱلْإِنسُ وَٱلْجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِمِثْلِ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِۦ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا ﴿٨٨﴾ (سورت اسراء، یا بني اسرائیل، سورت ۱۷، آیت ۸۸)

ترجمه:

ووایه ای محمده دوی ته خامخا که یو ځای راټول سي ټول انسانان او ټول پیریان پر دې چې راوړي په شان د دې قرآن نو را به نه وړي په شان د دې قرآن که څه هم چې سي ځیني د دوی د ځینو نورو سره ملاتړي او مرستندویان.

داسي معجزه چې نه یوازي په فصاحت او بلاغت کي بې سیاله ده بلکه په جامعیت او قانونیت کي هم بې سیاله ده، الله تعالی ﷻ فرمایلي دي:

وَلَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِى هَٰذَا ٱلْقُرْءَانِ مِن كُلِّ مَثَلٍ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٨٩﴾ (سورت اسراء، یا بني اسرائیل، سورت ۱۷، آیت ۸۹)

ترجمه:

او په تحقیق موږ په دې قرآن کي مقرر بیان کړی دی خلکو ته د هر قسمه مثالونو څخه انکار وکړ د منلو څخه یې اکثرو خلکو او ناشکري یې د الله ﷻ وکړه.

قرآن کریم داسي معجزه ده چې د هر نسل، هري زماني او هري سیمي لپاره ذ ژوند په هر اړخ کي لارښوونکي قوانین لري داسي قوانین چې ماده او معنی دواړه پکښې دي او د بشري نړۍ هیڅ قانون

یې مقابله کولای نه سي او د مقابلې څخه یې عاجز دي ځکه چې که داسي نه وي بیا خو معجزه نه سوه نو په دې اساس قرآن عظیم الشان د رسول الله ﷺ تر ټولو لویه عقلي او معنوي معجزه ده چې د قیامت تر ورځي پوري د خاتم النبین ﷺ د عام رسالت تصدیق کوي.

## ۲. شق القمر:

په حسي معجزاتو کي تر ټولو لویه معجزه د شق القمر (د سپوږمۍ دوې ټوټې کېدل) ده، الله تعالی ﷻ فرمایلي دي:

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ ۝ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝ (سورت القمر، سورت ۵۴، آیت ۱–۲)

ترجمه:

رانژدې سو قیامت او دوه ټوټې سوه سپوږمۍ او که ووینې دغه کفار کوم دلیل د قدرت د الله ﷻ نو مخ به واړوي دوی د هغه څخه او وایي به دوی دغه سحر دی ژر تلونکی (یا ځواکمن یا پرله پسې) چې د پخوا راهیسي راځي.

د سیرت لیکونکو او مفسرینو په اتفاق د شق القمر معجزه د نبوي بعثت په اتم کال ۶۱۸ میلادي کال سره سم ظاهره سوې وه، د قمري میاشتي څوارلسمه وه، رسول الله ﷺ په منی کي و، د قریشو مشرانو ورته وویل: ته که چیري موږ ته دا معجزه ارائه کړې چې دغه سپوږمۍ په اسمان کي دوه ټوټې سي او بیا بیرته هغه سره یو ځای او په عادي حالت سي نو موږ به ستا نبوت قبول کړو، نو نبي کریم ﷺ الله تعالی ﷻ ته سوال او دعا وکړه نو سپوږمۍ د الله تعالی ﷻ په امر دوه ټوټې سوه یوه څه وخت وه او بیا بیرته دواړه ټوټې سره یو ځای سوې مګر





مشرکانو د خپلي وعدې خلاف وویل دا خو خورا قوي جادو و چې زموږ په سترګو یې وکړ، نورو ورته وویل: مسافر چې په دغه شپه راسي د هغوی څخه پوښتنه وکړی پر هغوی خو یې جادو نه دی کړی، مسافرین چې کله وپوښتل سوه نو هغوی هم دا شاهدي ورکړه چې هغوی هم ولیدل چې سپوږمۍ دوه ټوټې سوه او بیا بیرته یو ځای سوه.[۷۹]

دغه راز د هندوستان د راجپوت قوم په تاریخ کي لیکلي دي: د هغه وخت د هندوستان د مالابار (کلکته) حاکم او زُمُورن ویلي دي: نوموړی په دغه شپه د خپل کور د مخ په چمن کي ناست و او سپوږمۍ ته یې کتل چې دوه ټوټې سوه او بیرته سره یو ځای سوه، زُمُورن پاچا حیران سو او کله چې د عربو تاجران ملابار ته ولاړل نو زُمُورن پاچا د هغوی څخه پوښتنه وکړه چې په مکه کي خو کومه نوې پېښه نه ده سوې؟ (شاید چې د نورو هیوادونو د تاجرانو څخه یې هم د دې پېښې د نبه معلوماتو په خاطر د هغوی د هیواد حالات پوښتلي وي).

هغوی د محمد ص د بعثت واقعه ورته بیان کړه او بیا یې د شق القمر قصه ورته وکړه، د مالابار پاچا زُمُورن ورته وویل: دا رشتیا ده او ما په خپلو سترګو د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل او بیا یو ځای کېدل ولیدل او نوموړي پاچا په غیاب کي پر رسول الله ﷺ ایمان راوړ او مسلمان سو.[۸۰]

[۷۹] تفسیر قرطبي، ج ۹، ص ۸۳. تفسیر تفهیم القرآن، ج ۵، ص ۲۲۹.

[۸۰] غوره عقیده، ص ۳۵۷، مصنف، شهادت علی خان کهچی چوهان. طبع لاهور ۱۹۸۳ م په حواله

محدثین لیکي: د شق القمر معجزه په حضرت محمد ﷺ پوري خاصه ده او د ده څخه مخکي نورو رسولانو علیهم السلام ته نه ده ورکړل سوې. حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کي ټول هغه احادیث راټول کړي دي کم چي د شق القمر د معجزې په هکله روایت سوي دي.[81]

کومه خبره چي په عوامو کي مشهوره ده چي سپوږمۍ د رسول الله ﷺ په لستوڼي ننوتل او تر ګریوان یې راووتل دا خبره بالکل بې اساسه ده هیڅ سند نه لري.

## د نبي کریم ﷺ فضیلتونه

الله تعالی ﷻ خپلو ټولو انبیاء وو او رسولانو ته ځانګړي فضایل ورکړي دي خو هغه فضایل، خصوصیتونه چي یې زموږ پیغمبر ﷺ ته ورکړي دي بل یوه رسول ته یې نه دي ورکړي چي په لنډه توګه ورته اشاره کوو او دا هغه فضیلتونه دي چي په قرآن کریم او نبوي احادیثو کي ذکر سوي دي.

### ۱. خاتم النبیین:

لومړی فضیلت یې دا دی چي الله تعالی ﷻ پر حضرت محمد ﷺ باندي د بشري رسولانو او انبیاء علیهم السلام د بعثت سلسله تکمیل کړې ده او د ده څخه وروسته بل هیڅ پیغمبر او رسول نه راپېږل کیږي الله تعالی ﷻ فرمایي:

[81] ودي کتل سي تفسیر ابن کثیر د سورت القمر تفسیر.





مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ (سورت الاحزاب، سورت ۳۳، آیت ۳۹)

ترجمه:

نه دی محمد حقیقي پلار د هیڅ یو تن د سړیو ستاسو مګر رسول د الله ﷺ دی او خاتم د انبیاء وو دی.

حضرت انس ﷺ وایي چي یوه ورځ په نبوي مسجد کي اصحاب حاضر وه، رسول الله ﷺ وویل:

ان الرسالة والنبوة قد انقطعت فلا رسول بعدی و لا نبی.[82]

ترجمه:

د رسالت او نبوت سلسله قطعه سوه نو تر ما وروسته نه به کوم رسول وي او نه کوم نبي.

نو نبوت پر حضرت محمد ﷺ پای ته رسېدلی دی او رسول الله ﷺ اخري رسول او اولوالعزم پیغمبر دی او پر ده باندي نازل سوی کتاب قرآن کریم او شریعت د پخوانیو ټولو آسماني کتابونو او شریعتونو ناسخ دي او پر نورو کتابونو عمل کول حرام دي پر ټولو انسانانو باندي د محمدي شریعت متابعت فرض دی نو هغه امتونه چي اسلامي شریعت نه قبلوي لکه یهودیان، نصرانیان، مجوسیان، هندوان، بودایان او نور هغوی ټوله د اسلام په حکم کافران دي او هغه کسان چي پر حضرت محمد مصطفی ﷺ باندي نبوت ختم نه ګڼي او له هغه څخه وروسته په خپله هم د نبوت دعوه کوي لکه مسیلمة کذاب،

[82] مسند احمد او ترمذي

اسود عسی د ایران محمد علی باب، قرة العین طاهره، بهاء الله نوری د بابیت او بهائیت مخکښان، د هندوستان غلام احمد قادیاني، د پاکستان د لاهور یوسف کذاب، محمد مهدی اټکی دکویټې د ذکري فرقې متنبی چې اصل د اټک دی او داسې نور مرتد او کافر دي او معتقدین یې هم کافران دي.

## ۲. د غنیمتونو حلال والی:

دوهم فضیلت یې دا دی چې الله تعالی ﷻ غنیمت ورته حلال کړی دی او غنیمت هغه مال ته ویل کیږي چې د اسلام او کفر د وسلوال جنګ په دوران کې د کفارو څخه ترلاسه کړل سي او پخوانیو رسولانو ته غنیمت روا نه و.

## ۳. د رسالت عام والی:

دریم فضیلت یې دا دی چې د رسول الله ﷺ څخه له مخه ټول انبیاء علیهم السلام خپلو خپلو امتونو ته مبعوث کړل سوي وه په داسې حال کې چې حضرت محمد مصطفی ﷺ د ټول بشریت او ټولو انسانانو ته د قیامت تر ورځې پیغمبر را لیږل سوی دی او پر ټولو فرض ده چې ایمان پر راوړي او متابعت یې وکړي.

## ۴. د ټولې ځمکې پاکوالی:

څلورم فضیلت یې دا دی چې الله تعالی ﷻ ټوله ځمکه ورته پاکه ګرځولې ده او د ځمکې په هر ځای کې لمونځ کول ورته روا دي په داسې حال کې چې د نورو پیغمبرانو او د هغوی د امتیانو لپاره د





عبادت خاص ځایونه وه بل ځای یې عبادت نه سوای کولای او تیمم هم ورته جایز نه و.

## ۵. جوامع الکلم ورکول:

پنځم فضیلت یې دا دی چې د قرآن کریم په بڼه کې جوامع الکلم ورکړل سوی دی، جوامع الکلم دې ته وایي چې په کمو او لږو الفاظو کې ډیري معنی وي ځای کړل سوي وي او دغه خصوصیت په ټولو آسماني کتابونو کې یوازې قرآن کریم ته ورکړل سوی دی.

## ۶. د رعب ورکړه:

الله تعالی ﷻ رسول الله ﷺ ته د یوې میاشتې د مصافې په اندول رعب ورکړی و چې دښمن به ور څخه بېرېدی.

پورتني فضیلتونه سیدالمرسلین ﷺ په یوه حدیث کې بیان کړي دي:

عن ابی هریرة: ان رسول الله ﷺ قال: فضلت علی الانبیاء بست: اعطیط جوامع الکلم و نصرت بالرعب و احلت لی الغنائم، و جعلت لی الارض طهوراً و مسجداً و ارسلت الی الخلق کافة و ختم بی النبوة.(۸۳)

ترجمه:

د ابوهریره ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته پر نورو انبیاوو باندي په شپږو شیانو سره فضیلت راکړل سوی دی:

۱. جوامع الکلم راکړل سوی دی.

(۸۳) صحیح مسلم، ج ۱، ص ۳۱۷، کتاب المساجد و مواضع الصلاة.



Scanned with CamScanner

٢. په رعب سره مې مرسته سوې ده.
٣. د غنیمت مال را ته حلال سوی دی.
٤. ټوله ځمکه زما لپاره پاکه او د لمونځ کولو ځای ګرځېدلې ده.
٥. زه ټولو انسانانو ته د پیغمبر په حیث لېږل سوی یم.
٦. پر ما باندي نبوت ختم سوی دی.

## ٧. مقام محمود ورکول:

د رسول الله ﷺ اووم فضیلت د محمود د مقام د قیامت په ورځ ورته ورکول دي لکه چي الله تعالی ﷻ خاتم النبیین ﷺ ته په خطاب کي دا زېری ورکړی دی او ورته فرمایلي یې دي:

وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِۦ نَافِلَةً لَّكَ عَسَىٰٓ أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا ﴿٧٩﴾ (سورت بنی اسرائیل، الاسراء، سورت ١٧، آیت ٧٩)

ترجمه:

او په یوه برخه د شپې کي خوب پرېږده او ویښ اوسه (په لوستلو د قرآن کریم په لمانځه کي) دا زیادتي یعني اضافه عبادت دی خاص تا ته ښایي چي وبه دروي تا رب ستا (په قیامت کي) پر هغه مقام چي ستایل سوی دی.

## ٨. د عالمیانو لپاره رحمت:

اتم فضیلت یې دا دی چي رسول الله ﷺ پر ځمکه باندي د ټولو عالمیانو لپاره رحمت رالېږل سوی دی د هغه شریعت او لارښووني د ټول بشریت لپاره رحمت دی، الله تعالی ﷻ فرمایلي دي:





وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٠٧﴾ (سورت الانبیاء، سورت ٢١، آیت ١٠٧)

ترجمه:

او نه یې لېږلی ته موږ (ای محمده!) مګر رحمت لپاره د ټولو عالمیانو.

## ٩. د معراج په شپه د لمانځه امامت:

نهم فضیلت یې دا دی چي د بعثت په ١٢ کال د ربیع الاول په دوولسمه، ١٢ د ٦٢١ میلادي کال سره سم د معراج په شپه یې ټولو انبیاء وو ته د لمانځه امامت ورکړ.

## ١٠. لواءُ الحمد:

لسم فضیلت یې دا دی چي د قیامت په ورځ به د حمد بیرغ د حضرت محمد مصطفی ﷺ په لاس کي وي او د آدم ؑ په ګډون به ټول پیغمبران د ده د بیرغ لاندي ولاړ وي.

## ١١. د بشریت سردار:

یوولسم فضیلت یې دا دی چي د قیامت په ورځ به د ټول بشریت، سیادت، سرداري او مشرتابه به سید المرسلین ﷺ ته ورکړل سي او د ټولو انسانانو سردار به وي.

## ۱۲. د قبر څخه لومړی پورته کېدل:

دوولسم فضیلت یې دا دی چې د اسرافیل علیه السلام په دوهم شپېلۍ پوکولو سره به لومړی د مبارک قبر څخه د الله ﷻ په حکم حضرت محمد ﷺ پورته کیږي.

دغه درې واړه فضیلتونه پخپله رسول الله په حدیث کې بیان کړي دي.

عن ابی سعید قال: قال رسول الله ﷺ انا سید ولد ادم یوم القیامة و لا فخر، و بیدی لواء الحمد و لا فخر، و ما من نبی یو مئذ ادم فمن سواه الا تحت لوائی، و انا اول من تنشق عنه الارض و لا فخر.[84]

ترجمه:

د ابوسعید خدري رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه د قیامت په ورځ د ټول بشریت سردار یم، ویاړ او فخر نه کوم زما په لاس کې به د حمد بیرغ وي یعني پر ټول عالم باندي د سیدالابرار د فضیلت او ستاینې بیرغ[85] وي او ویاړ نه کوم او د آدم علیه السلام په ګډون به ټول انبیاء زما د بیرغ لاندې وي او زه به لومړی هغه څوک یم چې د قبر څخه به پورته کړل سم او فخر نه کوم.

## ۱۳. د جنت لباس به لومړی ده ته واغوستل سي:

په قیامت کې د بیا راپورته کېدو وروسته به رسول الله ﷺ لومړی هغه څوک وي چې د جنت لباس به ور واغوستل سي بیا وروسته نورو

(۸۴) ترمذی مع تحفة الاحوذی، ج ۱۰، ص ۵۹، ابواب المناقب.

(۸۵) ترمذی، ج ۸، ص ۴۲۵ مع تحفة، ابواب التفسیر، سورت بنی اسرائیل.





پیغمبرانو علیهم السلام ته اغوستل کیږي، بیا به عامو جنتیانو ته. (الله ﷻ دي موږ هم پکښي شامل کړي)

## ۱۴. د عرش عظیم راسته خواته دریدل:

څوارلسم فضیلت یې دا دی چې الله ﷻ به رسول الله ﷺ د خپل عرش راسته طرفته ودروي او دا هغه مقام دی چې نه ملایکو ته ورکول کیږي او نه بل انسان ته.

دغه دواړه فضیلتونه پیغمبر ﷺ په یوه حدیث کې بیان کړي دي:

عن ابی هریرة قال: قال رسول الله ﷺ: انا اول من تنشق عنه الارض فاکسی الحلة من حلل الجنة ثم اقوم عن یمن العرش لیس احد الخلایق یقوم ذالک المقام غیری.[86]

ترجمه:

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه لومړی هغه څوک یم چې ژوندی به کړی سم نو بیا به د جنت د لباسونو څخه یو لباس را واغوستل سي، بیا به زه د عرش عظیم راسته طرف ته ودریږم او دا هغه مقام دی چې زما څخه پرته د مخلوقاتو هیڅ یو کس ته نه ورکول کیږي.

## ۱۵. حبیب الله:

پنځلسم فضیلت یې حبیب الله دی او دا داسي اعزازي صفت دی چې د پخوانیو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام صفتونه او لقبونه پکښي دي (و انا حبیب الله و لا فخر).

(۸۶) ترمذی.

## ١٦. شفاعت کبری:

په قیامت کي به رسول الله ﷺ لومړی شفاعت کوونکی او مشفع به وي لکه چي فرمایلي یې دي.

و انا اول شافع و اول مشفع یوم القیامة و لا فخر.[٨٧]

ترجمه:

او زه به د قیامت په ورځ لومړی شفاعت کوونکی یم او زه به لومړی هغه کس یم چي شفاعت به مي قبلیږي او زه فخر نه کوم.

## ١٧. له ټولو څخه لومړی جنت ته ننوتل:

اوولسم فضیلت یې دا دی چي په قیامت به د حساب او کتاب څخه وروسته د جنتیانو امام او مخکښ هم حضرت محمد مصطفی ﷺ وي لکه چي فرمایلي یې دي.

و انا اول من یحرک حلق الجنة فیفتح الله لی فید خلنها و معی فقراء المومنین و لا فخر.[٨٨]

ترجمه:

زه لومړی هغه څوک یم چي د جنت د خلاصولو لپاره به د جنت دروازې ځنځیرونه به وښوروم نو الله تعالی ﷻ به یې راته خلاصه کړي (او با عمله موحد مومنین) به راسره وي او فخر نه کوم.

[٨٧] ترمذی

[٨٨] ترمذی





## ١٨. لوړه مرتبه او عزت:

اتلسم فضیلت یې دا دی چي په جنت کي به د ټولو اولینو او اخرینو مکرم او خورا عزتمند وي لکه چي فرمایي.

و انا اکرم الاولین والاخرین و لا فخر.

ترجمه:

او زه به د اولینو او اخرینو مکرم او عزتمند یم او فخر نه کوم.

## ١٩. د کوثر حوض:

نولسم فضیلت یې د کوثر حوض ورکول دي لکه چي الله ﷻ فرمایي:

إِنَّآ أَعْطَيْنَٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ (سورت الکوثر، سورت ١٠٨، آیت ١)

ترجمه:

بېشکه موږ در کړی تا ته (ای محمده!) (ډېر خیر او ویاله په جنت کي).

په نبوي احادیثو کي د حوض کوثر په هکله صحیحنو کي خورا ډېر روایات موجود دي په صحیح بخاري د عبدالله بن عباس ؓ څخه روایت دی چي د کوثر څخه مراد خیر دی.

ابوالبشر ؒ وایي چي ما د سعید بن جبیر ؒ څخه واورېدل چي خلک وایي چي دا د جنت نهر دی نو هغه وفرمایل چي د جنت نهر (حوض کوثر) هم په دې خیر کي شامل دی.



Scanned with CamScanner

په بل حدیث کي راغلي دي چي کوثر د جنت یو نهر (ویاله) ده چي دواړو غاړو ته یې سره زر او سپین زر دي او په یاقوتو او مرجانو کي بهیږي، او به د واورو څخه سپیني او د عسلو څخه خوږې دي.(۸۹)

## حضرت محمد ﷺ د نامسلمانو پوهانو له نظره:

نبي کریم ﷺ هغه سپېڅلې هستي ده چي نړۍ ته یې د سولي، امن او سوکالۍ پیغام راوړ، هغه مهال چي یو انسان د بل انسان د وینو تږی و نو دغه ستر شخصیت په نړۍ کي د سوکالۍ او هوسایني بیرغ پورته کړ هلته چي بشریت نور د ژوندانه څخه ستومانه سوی و نو همدغه د انسانیت لوی محسن د معنویت څخه په خالي انساني کالبوت کي نوې ساه پوه کړه.

د پیړیو راهیسي د لویدیځ متعصبو لیکونکو د اسلام د ستر پیغمبر ﷺ په هکله خپل ناوړه قلمونه کارولي دي او د دغه سپېڅلي انسان په شان کي یې د بې انصافۍ، څخه کار اخیستی دی، خو دا ناپوهان له دې څخه ناخبره وه چي لمر هیڅکله په دوو ګوتو نه پټیږي او یوه ورځ به خامخا د دغه لمر وړانګې د لویدیځ تیارې رڼا کړي لکه څنګه چي اوس عملاً ګورو چي په اروپا او امریکا کي هر کال په لس ګونو او ان په سل ګونو کتابونه د دغه رحمت د پیغمبر ﷺ د سپېڅلي ژوند په هکله لیکل کیږي، که څه هم د پیغمبر ﷺ ستروالی، عظمت، ستر مقام او سپېڅلي اخلاق د لوېدیځوالو لیکونکو او د نظر د خاوندانو تایید ته اړ او محتاج نه دي ځکه الله تعالی ﷻ پخپله هغه ﷺ

(۸۹) ترمذي، ابن ماجه مرفوعاً د عبدالله ابن عمر څخه.





په ښکاره توګه ستایلی دی او بیا مسلمانانو لیکونکو الحمدلله د تاریخ په اوږدو کي د هغه ﷺ د سپېڅلي سیرت پوره حق اداء کړی دی او د هغه ﷺ په هکله یې د اسلام د ابتداء څخه بیا تر ننه پوري غوره کتابونه لیکلي دي خو بیا هم د دې لپاره چي هغه مشهور متل دی چي (الفضل ماشهدت به الاعدا) یعني فضیلت او بهتري هغه ده چي دښمن اعتراف او شاهدي پر وکړي نو په لاندي توګه د لوېدیځ د هغو مشهورو نامسلمانو لیکوالو، سیاستوالو، تاریخ پوهانو او د نظر د خاوندانو چي که څه هم د حضرت محمد ﷺ پیغمبري نه مني خو انصافاً د هغه ﷺ د سپېڅلي او هر اړخیز شخصیت په اړه په زړه پوري لیکني لري د بیلګي په توګه یې ځینو ته اشاره کوو.

### ۱. د تاریخ ستر مصلح:

سرویلیام موئیر (۱۸۱۹–۱۹۰۵ م) نوماند بریتانوي تاریخ پوه په خپل کتاب (د محمد ﷺ ژوند) کي لیکي: د محمد ﷺ دین آسانه او خبري یې څرګندي وي، کوم کارونه یې چي ترسره کړي دي، عقل ورته حیران دی، د نړۍ په تاریخ کي داسي ستر مصلح نه دی تېر سوی چي په دومره کمه موده کي یې زړونه راویښ کړي وي، تولنیز اخلاق یې د سره ژوندي کړي او د ښېګڼو بنسټونه یې ایښي وي.

### ۲. د تاریخ نومیالی:

ډاکترګو ستالوبون (۱۸۴۱–۱۹۳۱ م) مشهور فرانسوی لیکوال د پیغمبر ﷺ د شخصیت په هکله داسي وایي: که چیري غواړو د نړۍ د سترو انسانانو لوی والی او ارزښت د هغوی د کړنو او اثارو په رڼا

کي وتلو نو بې له شکه باید ووایو چې محمد ﷺ د تاریخ د نومیالیو په منځ کي ستر نومیالی دی.

## ۳. د طبیعت د زړه ناره:

توماس کارلایل (۱۹۷۵-۱۸۸۱ م) انګریزي لیکونکی او مؤرخ په خپل کتاب (تحقیقات) کي لیکي: د صحرا دغه بچی د لوی زړه، تورو او اغېزناکه سترګو او ټولنیز روح خاوند و، د ځان سره یې پرته د ځان غوښتنې څخه هر ډول افکار درلودل، څه یو ارام او لوی روح! هغه د داسي انسانانو څخه و چې پرته د مینې او عاطفې څخه یې بل څه نه پېژندل او فطرت مخلص، نرم زړه او مینه ناک پیدا کړی و. د دغه انسان وینا د طبیعت د زړه ناره ده، خلک باید هرومرو هغه ته غوږ سي او که داسي وینا وو ته ځیر نه سي نو بیا هیڅ کلام د غوږ نیولو ارزښت نه لري.

## ۴. د انساني تاریخ د لویانو لوی:

پروفیسر ویل دورانت، امریکایي مؤرخ لیکي: که چیري په خلکو کي د دغه لوی انسان د اغیزي کچه وڅېړو نو باید ووایو چې حضرت محمد ﷺ د تاریخ په لویو انسانانو کي تر ټولو لوی و.

## ۵. د انسانیت ژغورونکی:

جورج برنارډشاه (۱۸۵۶-۱۹۵۰ م) د انګلستان ستر مؤرخ او مفکر وایي: په راتلونکو سلو کلونو کي به د نړۍ دین اسلام وي، خو هغه اسلام نه چې د نن ورځي د مسلمانانو دین دی بلکه هغه اسلام به وي چې د محمد ﷺ په وخت کي یې د انسانانو په زړونو، دماغونو او





ارواحونو کي ځای نیولی و، هغه زیاتوي زما په باور چې که د نننۍ نړۍ قیادت او مشري د حضرت محمد ﷺ په څېر یو انسان ته وسپارل سي نو د نړۍ د ټولو ورپېښو ستونزو په حل کولو کي به بریالی سي او دنیا به د امن، سوکالۍ او نېکمرغۍ زانګو وګرځوي، هغه لیکي: محمد ﷺ یو ستره هستي ده او په سمه معنی د انسانیت ژغورونکی و.

## ٦. د تاریخ ستر نابغه:

کران آرمسترنګ، وتلې دین پېژندونکې چې په اسلام، یهودیت، مسیحیت او بودابیزم باندي یې لیکنې کړي دي، په خپل کتاب (د محمد ﷺ ژوند لیک) کي لیکي: که چیري موږ حضرت محمد ﷺ ته په هغه نظر وګورو چې د تاریخ لویې څېرې مطالعه کوو نو په اسانۍ سره به دې پایلې ته ورسیږو چې هغه د تاریخ تر ټولو ستر نابغه و.

## ۷. اغېزمن انسان:

جان ویلیم ډراپر (۱۸۱۱-۱۸۸۲ م) امریکایي ساینس پوه، فیلسوف او تاریخ پوه وایي: د قسطنطین د مرګ څخه وروسته په ۵۷۱ میلادي کال د عربو په مکه کي هغه انسان سترګي وغړولې چې له ټولو انسانانو څخه زیات یې پر انساني ټولنه اغېز پروت دی! دا انسان محمد ﷺ دی.

## ۸. لومړی مقام:

مایکل ایچ هارټ په خپل کتاب (د نړۍ د سلو سترو اغېز لرونکو انسانانو مراتب) کي په خپل اند د نړۍ سل نوماند شخصیتونه پرتله کړي دي او حضرت محمد ﷺ ته یې تر ټولو لومړی مقام ورکړی دی،



Scanned with CamScanner

هغه په دې هکله وايي: کېدای سي زما دا غوراوی چي ولي مي حضرت محمد ﷺ د نړۍ د سترو او اغېزلرونکو انسانانو د لست په لومړي سر کي راوست ډېرو ته نا اشنا بریښي او کېدلای سي نور ډېر زما دا کار د پوښتني لاندې راولي خو لکن هغه ﷺ په انساني تاریخ کي یوازینی سړی دی چي د ژوند په مذهبي او غیر مذهبي دواړو کي بې حده کامیاب و، زما په اند هغه د دې وړ دی چي د نړۍ تر ټولو اغېزناک شخصیت وبلل سي.

## ۹. مهاتما ګاندي څه وايي:

د هندوستان ستر سیاسي مشر او لارښود مهاتما ګاندي د پیغمبر ﷺ په هکله لیکي: ما غوښتل د هغه بهترین انسان په اړه وپوهېږم چي د میلونونو انسانانو په زړونو واکمن دی کله چي مي د هغه د ژندلیک دوهم ټوک بنداوه نو په دې مي افسوس کاوه چي ما د دغه ستر شخصیت د ژوند په اړه پوره معلومات نه درلودل، زه په یقین او پوره ډاډ سره ویلای سم چي اسلام د توري په زور بری او غلبه نه ده موندلې بلکه د هغې بنسټ د حضرت محمد ﷺ اخلاص، د ژوند ساده توب، پر ځان بشپړ ډاډ، خپلي سپېڅلي موخي ته ژمنتوب، د ملګرو سره وفاداري، د هغه زړورتیا، د ډار نه موجودیت او په خپل کار او هدف کي د الله ﷻ بشپړ اطاعت او منته او پر الله ﷻ باندي پوره باور او ایمان و، هو! همدغه شیان وه چي هر څه یې د هغه مخي ته راوړل او پر ټولو ستونزو او خنډونو یې هغه ته بری ورکړ، نه توره.





## ۱۰. بشپړ شخصیت:

ډیکارټ په خپل کتاب Meinkamp کي خپل نظر داسي څرګندوي: کامل او پوره بلونکي په نړۍ کي د ګوتو په شمار وي، د بلونکي، مفکر، منتظم، مشر او قاید ټولي ځانګړتیاوي په یوه شخص کي په یو وخت راټولېدل شاذ او نادر دي او همدا اصل سترتوب او عظمت دی خو نړۍ د حضرت محمد ﷺ په وجود کي د غوښي او پوستکي د انسان په بڼه دا ټولي ځانګړتیاوي لیدلي دي.

## ۱۱. سپېڅلې عقیده:

ګیبن نامتو امریکایي لیکوال او مفکر د پیغمبر ﷺ په هکله لیکي: د محمد ﷺ راوړی دین د هر ډول شک او شبهې څخه پاک دی او قرآن کریم د الله ﷻ د وحدانیت ستر دلیل دی.

## ۱۲. بشپړه ډېوه:

دلایلا مادتبت نامتو روحاني او د نوبل د جایزې ګټونکی وایي: زه د اسلام پیغبر حضرت محمد ﷺ د انساني تاریخ په سترو شخصیتونو کي شمېرم، د هغه لارښووني د هدایت بشپړه ډېوه ده.

## ۱۳. د لوړي موخي خاوندان:

وتلی انګلیسي لیکوال ژنرال سرپرسي سایکس (۱۸٦۷-۱۹۴۹ م) په خپل کتاب (د ایران تاریخ) کي لیکي: زما په اند حضرت محمد ﷺ د بشریت په منځ کي تر ټولو ستر انسان دی چي په لوړ مرام سره یې خپل ټول توان په کار واچاوه تر څو شرک او بت پالنه له منځه یوسي او د هغوی پر ځای د اسلام سوچه او لوړ افکار ځای پر ځای کړي، زه د



Scanned with CamScanner

هغه دا بې کچې خدمات چې په دې لاره کې یې د بشریت د خلاصون لپاره ترسره کړي دي ستایم او د تعظیم سر ورته ټیټوم.

## ۱۴. یوازینۍ سرچینه:

د نکان بلاک مکدونالد (۱۸٦۳-۱۹۴۳ م) امریکایي ختیځ پېژندونکی وایي: د حضرت محمد ﷺ شخصیت د څوارلسو پیړیو څخه وروسته اُوس هم د مسلمانانو د څواکمن کېدلو لپاره یوازینۍ سرچینه ده.

## ۱۵. شریف انسان:

د نړۍ تر ټولو ستر دایرة المعارف Encyclopedia Britanica په دوولسم ټوک کې لیکي: په لومړنیو سرچینو کې د تفصیلاتو یوه ستره برخه دا په ډاګه کوي چې هغه (محمد ﷺ) یو داسې شریف، رښتینی او صادق انسان و چې په خپل وخت کې یې د ټولو خلکو احترام او درناوی ځان ته را اړولی و چې د ده په څېر شریف وو.[۹۰]

# ماشومان او تنکي ځوانان باید د رسول الله ﷺ سره د مینې پر بنسټ وروزل سي

دا چې د رسول اکرم ﷺ مبارک شخصیت زموږ لپاره د ژوند په ټولو اړخونو کې غوره نمونه او بهترین مثال دی نو ټولو مسلمانانو والدینو، استادانو، مربیانو او دعوتګرو ته لازمه ده تر څو نوي

[۹۰] اصلاح سیرت، خانګړې کنه، ص ۲۱۵-۲۲۸ پورې په لنډیز سره.





مسلمان نسل، مسلمان ماشومان او تنکي ځوانان د رسول الله ﷺ سره د مینې او محبت پر بنسټ تربیه کړي او ویې روزي تر څو د همدا اوس څخه چې د دوی شخصیتونه د جوړېدو په حال کې دي، احساسات یې پاک او فکرونه یې د هر ډول خړ پړتیا څخه سپېڅلي دي، د دوی په زړونو کې د ماشومتوب او ځوانۍ په مرحله کې د خپل خواخوږي او مهربان پیغمبر ﷺ سره مینه او محبت پیدا او ځای پر ځای سي تر څو په اینده کې د خپل دین، د خپل پیغمبر او خپل کتاب څخه په کلکه ننګه وکړي، په لارښوونو یې عمل وکړي او نورو ته یې دعوت وکړي. صحابه وو ﷺ او سلفو صالحینو خپل ماشومان او خپل ځوانان د رسول الله ﷺ سره د مینې پر بنسټ روزلي وه چې د همدې مینې په نتیجه کې الله تعالی ﷻ ولوړو مقامونو ته ورسول او په دنیا او آخرت کې یې سرلوړي کړل.

# ماشوم او ځوان صحابه ﷺ د رسول الله ﷺ په خدمت کې

کله چې د اصحاب کرامو ﷺ د ماشومانو او نوي ځوانانو ژوند ته ښه ځیر سو چې څه ډول یې د رسول الله ﷺ محبت ته په خپلو زړونو کې ځای ورکاوه او څنګه یې په خپل ژوند کې هغه ﷺ او د هغه اوامرو ته حق اولیت ورکاوه دا خبره به راته ثابته او جوته سي چې هغوی د لاندې ځانګړتیاوو درلودونکي وه.

**الف:**

هغوی به فوراً او د ځنډ څخه پرته د رسول الله ﷺ دعوت مانه او امر يې اجرا کاوه، ښکاره ده چې د رسول الله ﷺ د دعوت فوراً منل يو دا چې د مينې او محبت پر ډېروالي دلالت کوي بل د دوی د محبت پر ټينګښت او قوت باندې هم دلالت کوي لکه څنګه چې حضرت علي ﵁ د لسو کالو څخه په لږ عمر کې د چا سره د مشورې کولو پرته د رسول الله ﷺ اسلامي دعوت ته لبيک وو ايه او بې له ځنډه يې ومانه، ځکه دا کار د عقيدې کار دی او هر کار خپل دليل لري او هر څوک په هغه عقيده وي چې پخپله يې اختيار کړې وي، لهذا حضرت علي ﵁ د اته کلنۍ څخه وروسته د اسلامي دعوت په اولو مراحلو او بيا له هغه څخه وروسته ښيله دې چې دچا څخه بېره او خوف ولري د اسلام د لارښوونو مطابق ژوند وکړ د اسلامي دعوت په ابتداء کې چې کله رسول الله ﷺ په پټه لمونځ کاوه، حضرت علي ﵁ هم لمونځ ورسره کاوه چې يوه ورځ ابوطالب وليدل چې زوی يې هم د بيرې او ډار څخه پرته د رسول الله ﷺ سره لمونځ کوي.

په احاديثو کې راغلي دي چې حضرت انس ﵁ چې په هغه وخت کې ماشوم و، د رسول الله ﷺ حضور ته د خدمت لپاره حاضرېدی او د نورو ماشومانو سره به يې لوبې او بازۍ پرېښوولې هغه کار چې ماشومانو ته تر هر څه محبوبې دي (لوبې کول)، حتی تر دې اندازې چې کله به په لوبو بوخت و او رسول الله ﷺ به ور ږغ کړه نو لوبې به يې پرېښوولې او بې له ځنډه به د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو او پوره لس کاله يې په همدې ترتيب د رسول الله ﷺ خدمت وکړ. حضرت انس ﵁ فرمايي چې يوه ورځ ما د نورو ماشومانو سره لوبې کولې چې





حضرت علي ﵁ راغلی او رسول الله ﷺ ته يې سلام واچاوه نو رسول الله ﷺ زه په يو کار پسې ولېږلم.[۹۱]

د صحابه وو ماشومان او نوي ځوانان دومره د رسول الله ﷺ په محبت او خدمت کې مخلص وه چې د رسول الله ﷺ په خدمت کې به يې د چا ويلو ته انتظار نه ايستی ښيله دې چې څوک ورته ووايي، د رسول الله ﷺ په خدمت کې به يې يو تر بله مسابقه او وړاندې والی کاوه.

عبدالله بن عباس ﵁ چې په هغه وخت کې تنکی ځوان و فرمايي: کله چې به رسول الله ﷺ غوښتل چې اودس وکړي نو ما به ښيله دې چې هغه را ته امر وکړي يا وپوهيږي د اوداسه لوښی ورته اماده کاوه او ورته ايښاوه مې نو کله چې به رسول الله ﷺ د اوبو لوښی وليد نو وبه يې ويل چې دا لوښی چا ډک کړی او اماده کړی دی؟ نو ورته وبه ويل سوه چې دا عبدالله ابن عباس ﵁ ايښی دی نو بيا رسول الله ﷺ ما ته دا دعا وکړه: (اللهم فقهه فی الدين).

ترجمه:

اې خدايه ده ته په دين کې پوهه او علم ورکړې.[۹۲]

د رسول الله ﷺ په حضور کې د ماشومانو او نوي ځوانانو صحابه وو ﵃ حاضرېدل په مختلفو شکلونو تر سره کېده چې د هغې جملې څخه يو هم د رسول الله ﷺ سره د نوي ځوانانو او ماشومانو بيعت کول وه.

حضرت اسماء ﵂ چې د عبدالله بن زبير ﵄ مور وه فرمايي: چې کله عبدالله بن زبير د اوو يا اتو کالو سو نو د بيعت لپاره د رسول الله ﷺ

---

(۹۱) منهج التربية النبوية للطفل، ص ۱۵۷ د بخاري شريف، مسلم او احمد په حواله.

(۹۲) بخاري د ابن عباس څخه



Scanned with CamScanner

حضور ته راغی، کله چي رسول الله ﷺ هغه ولیدی نو ورته په خندا سو، له دې څخه وروسته عبدالله د هغه ﷺ سره بیعت وکړ.(۹۳)

اصحاب کرامو خپل ماشومان د رسول الله ﷺ سره د مینې او محبت په اساس روزل او طبعي ده هر څوک چي د کوم شي په اساس تربیه سي نو هغه عادت ځان ته خپلوي.

علامه ابن ظفر مکي رحمه الله په خپل کتاب (ابناء نجباء الابناء) کي دا خبره را نقل کړې ده چي کومو ماشومانو او نوي ځوانانو چي د رسول الله ﷺ سره بعیت کړی و، دهغوی نومونه دا دي: حسین ؓ، حسن ؓ، عبدالله بن عباس ؓ او عبدالله بن زبیر ؓ.(۹۴)

## د ماشومانو جګړه د هغه چا سره چي د رسول الله ﷺ سخت دښمن دی

عبدالرحمن بن عوف ؓ وایي: زه د بدر په ورځ په صف کي دننه وم که ګورم چي راسته او چپه خوا ته مي دوه تنکي ځوانان دي، زه د دوی په لیدلو حیران سوم، په همدې وخت کي د دوی څخه یوه پټ راته وویل: کاکا! ابوجهل راوښیه، ما ورته وویل: وراره، ابوجهل څه کوې؟ ده وویل زه خبر سوی یم چي هغه د رسول الله ﷺ په حق کي نا مناسبه ژبه کاروي او خپلو خبرو ته یې ادامه ورکړه ویې ویل: قسم په هغه ذات چي زما نفس د هغه په لاس کي دی که زه ابوجهل ووینم تر هغې به یې پرې نه ږدم تر څو چي زموږ دواړو څخه یو مړی سوی نه

(۹۳) مسلم د عروة بن زبیر او فاطمه بنت منذ بن زبیر په روایت.

(۹۴) منهج التربیة النبویة للطفل، ص ۱۵۹.





وي، عبدالرحمن بن عوف ؓ زیاتوي: زه د ځوان دې خبرو ته ډېر تعجب سوم، بیا وایي: هغه بل تنکي ځوان هم په پټه همدا ډول خبري راته وکړې، د لږ درنګ وروسته مي ابوجهل ولید، نو دوی دواړو تنکي ځوانانو ته مي وویل: نه وینئ؟ هغه دی هغه څوک چي تاسي یې پوښتنه کول (ابوجهل)، عبدالرحمن بن عوف ؓ وایي: دوی دواړو ور منډه کړه او د تورو ګذارونه یې پرې وکړل او ابوجهل یې وواژه بیا دواړه د رسول الله ﷺ حضور ته ورغلل، ده مبارک پوښتنه ورڅخه وکړه! (ایکما قتله؟) له تاسي دواړو څخه کوم یوه وواژه؟ دوی هر یوه ویل ما وواژه، رسول الله ﷺ ورته وویل (هل سبحتما سیفیکما) ایا تاسي خپلي توري پاکي کړي دي؟ دوی وویل، نه، نو رسول الله ﷺ یې توري وکتلې او ویې فرمایل: (کلا کما قتله) تاسو دواړو وژلی دی. دا دواړه تنکي ځوانان ورونه وه، د یوه نوم معاذ بن عمرو بن جموح او د بل نوم معوذ بن عفرا و.(۹۵)

د صحابه وو او سلف صالح ماشومانو او ځوانانو به د رسول الله ﷺ ګفتار او کردار (احادیث) یادول.

په حدیث کي راغلي دي چي محمود بن ربیع ؓ وایي: په داسي حال کي چي زه پنځه کلن وم په یاد مي دي چي رسول الله ﷺ د سلواغي څخه اوبه را اخیستې او زما پر مخ یې (د تبرک او خوش طبعي) په خاطر پاشلې.(۹۶)

(۹۵) الرحیق المختوم، ص ۳۰۸-۳۰۹، د صحیح البخاري په حواله په لږ تغیر سره.

(۹۶) بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي او ابوداود.

ابوحوراء سعدي ربیعه بن شیبان وایي: د حضرت حسن ؓ څخه مي وپوښتل چي ایا د رسول الله ﷺ څخه دي اورېدلي دي او په یاد کړي دي دي؟ هغه راته وویل چي بلې هو! په یاد مي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

دع مایریبک الی ما لا یریبک.[۹۷]

ترجمه:

پرېږده هغه څه چي تا په شک کي اچوي هغه څه ته چي تا په شک کي نه اچوي.

حضرت سمره بن جندب ؓ فرمایي: چي زه د رسول الله ﷺ په زمانه کي نوی ځوان وم او د هغه ﷺ ویناوي او کړني (احادیث) مي حفظ کول او یادول مي او زه یې هم د خبرو کولو څخه نه منع کولم خو چي کله به مشران ناست وه بیا به یې منع کولم.[۹۸]

## ښکلي کولای سو چي نوی نسل د رسول الله ﷺ د سیرت سره اشنا کړو

د دې لپاره چي نوی مسلمان نسل د رسول الله ﷺ د مبارک ژوندلیک او د هغه ﷺ سپېڅلي سیرت او عالي اخلاقو سره ښه اشنا سي او ایمانونه یې د رسول اکرم ﷺ مبارک او سپېڅلي ذات د ژوندانه

---

[۹۷] رواه الترمذی والنسائی.

[۹۸] ترمذي، احمد ، ابن حبان او نسائي، دا ټول واقعات مو د منهج التربیة النبویة للطفل د کتاب څخه را نقل کړي دي، ص ۱۵۲ څخه تر ۱۲۲ پوري، د ډاکتر محمدنور سوید لیکنه د ایران چاپ.





په ټولو اړخونو کي د ځانونو لپاره قدوه، لارښود او رهبر وګرځوي نو لاندي اقدامات باید تر سره سي.

۱. دوی ته باید د دوی په ژبه او د دوی د سویې مطابق سپېڅلي نبوي سیرتونه وړاندي سي چي دا کار الحمدلله تر زیاتي اندازې تر سره سوی دی.

۲. ماشومان او نوي ځوانان باید د نبوي سیرت مطالعې ته تشویق سي.

۳. په هر کور، هر مسجد او هره غونډه کي باید د نبوي سیرت حلقې جوړي سي.

۴. د ښوونځیو او مدارسو په تعلیمي نصابونو کي باید نبوي سیرت ځای کړل سي.

۵. د ماشومانو تر منځ باید د نبوي سیرت سیالۍ جوړي سي.

۶. د ځوانانو تر منځ باید په لوړه سطحه د نبوي سیرت سیالۍ ترتیب سي.

۷. په ښوونځیو او مدارسو کي دي استادان او اداره د زده کوونکو او طالب علمانو څخه وغواړي څو د رسول الله ﷺ د مبارک ژوند د بېلابېلو اړخونو په هکله مقالې ولیکي.

۸. میډیا او رسنۍ دي د نبوي سیرت ته یوه برخه او یو پروګرام بېل کړي.

۹. د پورتنیو کارونو د ښه تنظیم او پرمختګ لپاره دي د علماء وو، لیکوالانو، فرهنګي او اسلامي ټولنو په همکاري دي یوه ګډه اداره جوړه سي.

۱۰. د نوموړي ادارې له خوا دې د علماوو او لیکوالانو تر نظارت لاندې نبوي سیرت د هیواد په مختلفو ژبو ولیکل سي او بیا دې عام توزیع سي.

۱۱. د بې سواده هیوادوالو لپاره دې نبوي سیرت په کیسټونو او سي ډي ګانو کي ثبت کړل سي.

۱۲. د نبوي سیرت د مطالعې د اهمیت او ارزښت په هلکه دې مختلف سمینارونه او غونډې جوړې سي.

۱۳. د انټرنیټ او نورو پرمختللو وسایلو له لارې دې نبوي سیرت نړۍ والو ته وړاندې سي او داسې نور...

ربنا تقبل منا انک انت سمیع العلیم.





## ماخذونه


۱. تفسیر القرآن العظیم، اسماعیل بن عمرو بن کثیر رحمه الله (۷۷۴ هـ).

۲. تفسیر اضوا البیان فی ایضاح القرآن بالقرآن، الشیخ محمد الامین بن محمد المختار الجکنی السنقیطی متوفی ۱۳۹۳ هـ، چاپ دار الحدیث قاهره، مصر.

۳. تفسیر معارف القرآن، مفتي محمد شفیع رحمه الله (۱۳۹۶ هـ).

۴. کابلی تفسیر، علامه شبیر احمد عثماني رحمه الله او علامه محمود الحسن رحمه الله دیوبندي، سعودي چاپ.

۵. عزیز التفاسیر، مولوي سلطان عزیز (عزیز)، چاپ دارالکنوز العلمیة، پېښور.

۶. تفسیر تفهیم القرآن، مولانا ابواعلی مودودي رحمه الله، چاپ پېښور.

۷. الصحیح البخاري، محمد بن اسماعیل البخاري رحمه الله، قدیمي کتب خانه، (۲۵۶ هـ).

۸. صحیح المسلم، مسلم بن حجاج القشیري رحمه الله، قدیمي کتب خانه، (۲۶۱ هـ).

۹. الجامع الترمذي، ابو عیسی ترمذي رحمه الله، مکتبه رحمانیه لاهور، (۲۸۷ هـ).

۱۰. سنن نسائي، ابوعبدالرحمن احمد بن شعیب رحمه الله، مکتبه رحمانیه لاهور، (۳۰۳ هـ).


۱۱. سنن ابن ماجه، ابو عبدالله محمد بن یزالقزوینی رحمه الله، مکتبه رحمانیه لاهور، (۲۷۳ هـ).


۱۲. شرح علامه زرقانی رحمه الله علی مواهیب اللدینه، مصر، قاهره، (۱۰۹۹ هـ).


۱۳. مشکوة المصابیح، محمد بن عبدالله الخطیب التبریزي رحمه الله، (۷۳۷هـ).
۱۴. هذا الحبیب محمد رسول الله یا محیب، ابوبکر الجزایري، سعودي چاپ کال ۲۰۰۳م.
۱۵. الرحیق المختوم، علامه صفی الرحمن مبارکفوری، (۱۳۹۴هـ)
۱۶. ماذا خسر العالم بانحطاط المسلمین، علامه سید ابوالحسن ندوي رحمه الله.
۱۷. سیرت النبي ﷺ، علامه شبلي نعماني رحمه الله او علامه سید سلیمان ندوي رحمه الله، چاپ کابل، پښتو ټولنه (۱۳۴۹هـ).
۱۸. د دعوت اصول، ډاکټر عبدالکریم زیدان رحمه الله، ژباړه عبدالحکیم امل، چاپ میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۶ل.
۱۹. شرعي حدود.
۲۰. نظام الفتاوی.
۲۱. اختلاف امت او صراط المستقیم، مولانا محمد یوسف لدیهانوي رحمه الله.
۲۲. منهج التربیة النبویه للطفل، دوکتور محمدنور سوید، چاپ ایران، مشهد.
۲۳. اصلاح سیرت، د اصلاح مجلې ځانګړې ګڼه، چاپ د جمعیت اصلاح ټولني د خپرونو څانګه.
۲۴. غوره عقیده، پوهنمل زاهدي احمدزی، چاپ امیرکروړ کتابتون، پېښور ۱۳۸۳ کال.
۲۵. حضرت محمد ﷺ د نړۍ سردار دی، ابو اعلی مودودي رحمه الله.
۲۶. د اسلام تاریخ، مولانا اکبرشا نجیب ابادي رحمه الله.
۲۷. د انسانیت لارښود، محمد نعیم صدیقي.



Scanned with CamScanner




**صداقت خپرندويه ټولنه**

ارګ بازار، کندهار